د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او
درسي کتابونو د تألیف ریاست

# پښتو

## دولسم ټولګی




د چاپ کال: ۱۳۸۸ لمریز

**د پوهنې وزارت**

**د تعليمي نصاب د پراختيا او**

**درسي کتابونو د تاليف رياست**

# پښتو

## دولسم ټولګی

**درسي کتابونه د پوهنې وزارت پورې اړه لري. په بازار کې يې اخيستنه او خرڅونه په کلکه منع ده.له سر غړوونکو سره قانوني چلند کيږي.**

**د چاپ کال: ۱۳۸۸ لمريز**

# دبیا کتنې کمېټې

## د ژبې او محتوا کمېټه:

_ سید احمد مومند د پوهنې وزارت سلاکار.
_ د مؤلف مرستیال محمد عزیز تحریک د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د پښتو دیپارټمنټ علمي او مسلکي غړی او د پښتو دیپارټمنټ آمر.
_ د سر مؤلف مرستیال سید محمود کارگر د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د پښتو دیپارټمنټ علمي او مسلکي غړی.
_ د مؤلف مرستیال محمد سهراب دیدار د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د پښتو دیپارټمنټ علمي او مسلکي غړی.
_ اقا محمد گړندی د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د پښتو دیپارټمنټ علمي او مسلکي غړی.
_ د مؤلف مرستیاله فروزان خاموش د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د پښتو دیپارټمنټ علمي او مسلکي غړې.
_ ادم خان مسعود د استقلال ښوونکی.

## دیني، سیاسي او فرهنگي کمېټه:

_ ډاکتر محمد یوسف نیازی د پوهنې وزارت سلاکار.
– محمد آصف ننگ د پوهنې وزارت د څېړونو او اطلاعاتو رئیس.
_ احسان الله ناشر د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د اسلامي تعلیماتو علمي او مسلکي غړی.

## د څارنې کمېټه:

_ دکتور عبدالغفور غزنوي د پوهنې وزارت د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ساینس مرکز او د څېړونو مرستیال.
کمېټې رئیس
_ محمد صدیق پتمن د پوهنې وزارت تدریسي مرستیال. غړی.
_ د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر گلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف رئیس. غړی

## کمپوز او ډیزاین:

صفت الله مومند د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د کمپیوټر دیپارټمنټ غړی.

بسم الله الرحمن الرحيم

# پیغام

د لوی خدای (ج) شکر ادا کوو چې زموږ د مجاهد ملت دکلکې ارادې، بیدریغه قربانیو، د ملګرو ملتونو او د نړۍ د بشردوستو هېوادونو د نیکو هلوځلو په پایله کې په هېواد کې سراسري سوله او مشروع سیاسي نظام ټینګ شو او له جګړې څخه را پیدا شوی ځوکلن کړاو یې پای ته ورساوه. د افغانستان اسلامي جمهوریت او په سرکې یې جلالتمآب حامدکرزی د واکمن وګړنیز نظام له پیل څخه ملي سترو موخو ته د رسېدو په هیله د هېواد د بیارغاونې او پراختیا په ټولو برخوکې د نوو پروګرامونو تګلاره پیل کړې ده. د ښوونې او روزنې په برخه کې او د معارف د نوي کیدو او غوړیدو په لاره کې هڅې، د ملي یووالي، متمدنو، رښتینو او د پیاوړو مسلمانانو په توګه د نوی ځوان نسل د روزنې په برخه کې د دغه جلالتمآب زیات ملاتړ او زړه سواندې لارښوونې چې تر تطبیق لاندې دي د ډېرې درناوي وړ دي.

دپوهنې وزارت دهغو لارښوونو او نوښتونو له جملې څخه چې دافغانستان دپوهنې د بیارغاونې په لاره کې یې ترلاس لاندې لري، د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست ته دنده ورکړې ده چې له یوې خوا د ښوونځیو د لوست دکتابونو دکمښت او نشتوالي ستونزه لرې کړي او له بل پلوه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د علمي او فرهنګي پالیسۍ اوموخو په رڼا کې د داسې واحد تعلیمي نصاب په ترتیبولو بوخت شي چې د هېواد اوسنیو او راتلونکو اړتیاوو ته ځواب ووایي. زموږ نوی تعلیمي نصاب چې د افغانې ټولنې له غوښتنو او نړیوالو معیارونو سره عیار شوی، موخه یې د هېواد د بچیانو اسلامي اوعلمي روزنه اوزده کړه ده چې په نتیجه کې یې دپوهنې د زده کوونکو، ماشومانو، تنکیوځوانانو او ځوانانو په ذهن کې سالم تفکر پیاوړی او هغوی د نوې پوهې له ارزښتونو سره آشنا کوي. زموږ د هېواد ځوانان باید متدین مسلمانان، هیوادپال، بشرپال او د پوهې او کمال پر ګاڼه سمبال انسانان وروزل شي ترڅو د علومو د پرمختیا او معاصر تمدن له پرمختګ سره اشنایي ترلاسه کړي او په ټینګ هوډ سره له هغو نوو او مثبتو بدلونونو څخه چې رامنځته شوي دي ګټه واخلي. دنوي افغانستان او د یوې سوکاله ټولنې د جوړونې په موخه د ساینس او تکنالوژۍ له بدلونونو سربېره باید د انساني علومو له بنسټونو، د بشري حقونو د ساتنې، سولې، هېوادپالنې، ملي یوالي، د استوګنې د سالم چاپیریال د ساتنې اوسوله ییز ګډ ژوند څخه خبر وي. د جهل له تورتم او د مخدره توکو له تولید او قاچاق سره مبارزه د خپلوزده کړوپه سرکې په پام کې ونیسي.

موږ له رښتینو، زړه سواندو اوتجربه لرونکو ښوونکو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په تطبیق کې د هېواد د بچیانو د زده کړې او روزنې سترمسؤلیت پر غاړه لري او دغه راز د هېواد د پوهنې د برخې له نورو علمي، فرهنګي شخصیتونو او پوهانو څخه هیله لرو چې د خپلو رغنده نظرونو او وړاندیزونو په وړاندې کولو سره زموږ له لیکوالو سره د درسي کتابونو په لیکلو او پیاوړي کولو کې مرستې وکړي. په همدې ډول له تمویلوونکو هېوادونو او درنو سازمانونو (د امریکا د متحده ایالتونو د نړیوالې پراختیا اداره، دانیدا، یونیسف، نړیوال بانک اویونیسکو)څخه چې دکتابونو په تالیف او چاپولوکې یې د پوهنې له وزارت سره مادي اوتخنیکي مرسته کړې ده مننه کوو. له ټولو ګرانو زده کوونکو، درنو ښوونکو او محترمو میندو پلرونو څخه هیله کوو چې د درسي کتابونو په ښه ساتنه کې خپله مرسته ونه سپموي.

## فاروق وردک

## دافغانستان داسلامي جمهوریت دپوهنې وزیر

# لړلیک


| سرلیک | مخ |
|---|---|
| حمد | ۱ |
| نعت | ۵ |
| پښتو ادبیات | ۷ |
| لنډۍ | ۱۴ |
| تاریخي نارې | ۱۶ |
| د نکلونو نارې | ۱۷ |
| نکلونه | ۱۸ |
| متلونه | ۲۰ |
| پښتو لنډې نالیکلې کیسې | ۲۲ |
| کیسۍ | ۲۳ |
| د پښتو نالیکلو ادبیاتو ارزښتونه | ۲۴ |
| د پښتو ژبې لیکلي ادبیات | ۲۶ |
| اخلاقي درس | ۲۸ |
| د وطن مینه | ۳۰ |
| امیر کروړ سوري | ۳۳ |
| غوره وینا | ۳۷ |
| د پښتو ادب رنګا رنګ اړخونه | ۳۹ |
| د ژوند ورمونه | ۴۵ |
| موسیقي | ۴۷ |
| پسرلی | ۴۹ |
| د زړه دنیا | ۵۱ |
| د پسرلي ننداره | ۵۴ |
| بي بي نېکبخته | ۵۶ |
| پښتو | ۵۸ |
| خوشحال او اورنګ زیب | ۶۰ |
| د افضل خان د تاریخ مرصع نثر | ۶۲ |
| د پښتو ژبې لرغونتوب | ۶۴ |
| انسان دوستي | ۶۷ |

| سرلیک | مخ |
|---|---|
| دمشرانو همت | ۷۰ |
| فکر او عمل | ۷۲ |
| ژیړ ګلونه | ۷۴ |
| خوشحال پېژندنه | ۷۷ |
| سید جمال الدین افغان | ۸۰ |
| د افغانانو هېواد | ۸۴ |
| د پټې خزانې مؤلف | ۸۷ |
| د حمید د شاعرۍ رنګین اړخونه | ۸۹ |
| غزل | ۹۴ |

| سرلیک | مخ |
|---|---|
| د ملي ترقۍ بنسټ | ۹۵ |
| په پښتو ادب کې باګرام | ۹۹ |
| زوی ته د سکندر خان خټک وینا | ۱۰۳ |
| ظلم | ۱۰۶ |
| ویل او کول | ۱۰۸ |
| غزل | ۱۱۱ |
| مخدره مواد | ۱۱۲ |
| د تېرو شاعرانو یادونه | ۱۱۶ |
| د دغه کتاب د لغاتو معناګانې | ۱۱۹ |

# حـــمـــد

دا آغاز مې په نامه د هغه خـدای دی

چې يې نوم ګره کشای دشاه ګدای دی

دالله په نــوم نــومــړ هغــه لايــق دی

چې خالق په يوه کــن دخـــلايــق دی

دلالت دغـه نـامه پـه هغـه ذات کـا

چــې يــوازې بـــا دشاهي دکاينات کا

نه يې مثل په جهان کې نه مثال شته

نه يې څوک په کار وبار کې سم وسيال شته

که تمام جهـان مـــانع ديـــوه کارشــي

چــې ښبتـــن يې روا دار شي هغه چار شي

خو ځنده ددې جهان دي که ساکـــن دي

پــه قـبضه دده د حکـم کـې کـايـــن دي

په هوا استـوار کـــړی آسمــــان ده دی

بيـــا ور کـــړی له خـلله امـــان ده دی

په اوبـــو باندې يې ځمکه په آرام کړه

جلوه ګاه يـــې د خو بانو د خرام کـــړه

سره ګلونــه زرغونه وي په شنه ښاخ کې

شنه ګیا يې خوري چنجي په سنګ ولاخ کې

په صدف کې د اوبو څاڅکی ګوهر کا

په رحم کې د نطفې قــطـره بــشر کـــا

چې جاري کا په جــهان د قدرت جعل

هغه دم کــا لعــل کاڼـــی، کاڼـــی لعل

چې ښکاره د خپل قوت شان و نشان کا

باد شاهان خرقه په غاړه درویشـــان کا

حکیمان يې تر حکمته شرمــــنـده دي

حکما دده په حـــکم کـــې بــنـده دي

هسـې خـوان يې د احســان دی غوړولی

چـې يې سم خوري پاکیزه او غـــوړولی

حیوانات که جمادات که نـباتـات دي

لقمــه ګیـر په قد رحال د خپل برات دي

غوښې خور ته ور کــوي هــمیشه غوښې

په تش ډاګ يې کا په غوښو منګول ښـــــخې

په وښـــو بانـــدې کا  مـــورې د وښـــو وږی

په اوبو کانـدي خــروب د اوبـــــو تږی

هېڅوک نه دي له دې خوا نه محروم پاتې

کـــه د لـږې وظیـــــفې دي که د زیاتې

دهـــــوا اهـــــل تـه رسي په هــــوا کې

د ســما اهـل ته رســـي په ســمـــــــاکې

د اوبــو عـــالم یـــې مومي په اوبو کې

د وچو بـــې یې په وچه خـــــوري په خولو کې

چې قـــــادر او بر کمال وایي هم دی دی

چې رازق او ذوالجـــلال وایي هم دی دی

پـــه خــــدایـــي کـــې قل هو الله احد دی

په هستۍ کې لم یلد و لم یـولـــــد دی

ښکته پورته مخلوقات اقسام اقـــسام

جواهر دي که اعراض دي کـــه اجـرام

حیوانات که نباتات کـــه جمـا دات دي

شاهدان په یګانـــــګۍ دده د ذات دي

هغـــه ذات چـــې دی واجب الوجود دی

غیر وبود ، دده تر بــود ، پورې نابود دی

کـــه نــغـمــه د لا الـــه الا الـلـــه ده

غرېـدلـــې د غیـــرت پـــه ګـــذر ګاه ده

هغه خدای چې متصف په کبر و ناز دی

ورته ښه تحفه طرفه عجز و نیـــاز دی

د احد لویـــي بــــه څوک و کــه حمیـــده

چې یې حــد نــهایت نه رسـي تــر بریده

(حمید مومند)

---

سپارښتنې:

- زده کوونکي دې له ښوونکي وروسته لوست په چوپه خوله ولولي او بیادې څو زده کوونکي په وار سره د لوست په مفهوم خبرې وکړي.
- ښوونکی دې د خدای ﷻ د ذاتي او فعلي صفتونو په هکله خبرې وکړي.
- زده کوونکي دې د خدای ﷻ ذاتي او فعلي صفتونه په ذکر شوي حمد کې څرګند کړي.
- د فعلي صفتونو په هکله دې څو کرښې په خپلو کتابچو کې ولیکي.
- د خدای ﷻ د ذاتي صفتونو په هکله دې یو زده کوونکی پخپله خوښه نورو زده کوونکو ته خبرې وکړي.

# نعت

صادق، پاک انسان د اسلام پیغمبر
ذکي، پوه دا شان د اسلام پیغمبر
لارښود، مُبتکر، مُدبر، مُهاجر
هوډمن پر جهان د اسلام پیغمبر
باطل یې ګڼل لات، منات د کعبې
محبوب د سُبحان د اسلام پیغمبر
حق بین او حقپال بریالی شو پر جهل
زړه سواند، مهربان د اسلام پیغمبر
خېرخواه، معتدل، ومُشفق په نصرت
موزون پر میزان د اسلام پیغمبر
وینا یې سره زر، سوچ، عمل یې بهتر
پاک نفس باوجدان د اسلام پیغمبر
صورت او سیرت یې ممتاز و له پیل
تابان پر آسمان د اسلام پیغمبر
شافع د امت د محشر په ډګر
سردار، قهرمان د اسلام پیغمبر
خدای مې خبر دزړه راز نه تحریکه!
له ځان را ته ګران د اسلام پیغمبر!!!

(محمد عزیز تحریک)

| لغتونه: | معناګانې: |
| --- | --- |
| مبتکر | نوښتګر |
| مدبر | تدبیر کوونکی |
| موزون | برابر |

---

## سپارښتنې:

- ښوونکی دې زده کوونکو ته د حضرت محمد ﷺ د لوړ مقام په هکله معلومات ورکړي.
- زده کوونکي دې په وار سره په خپل منځ کې د نعت شریف په باب ارزښتمنې خبرې وکړي.

# پښتو ادبيات

د ادبياتو د اوسنيو تعريفونو له مخې د يوې ژبې ټول ليکلي او ناليکلي منظوم او منثور هنري آثار ادبيات ګڼل کېږي. هر ډول ليکنې اوس په ادبياتو کې نه شمېرل کېږي، يوازې هغه آثار د ادبياتو تر سرليک لاندې راځي چې هنري ارزښت ولري. د مثال په ډول، هر منثور او منظوم اثر چې د علومو او فنونو په بېلا بېلو څانګو کې ليکل شوي وي او يا هر منظوم اثر چې تاريخ، جغرافيه، طب او نور علوم او فنون په کې تشريح شوي وي، ادبيات نه بلل کېږي.

په ادبياتو کې هغه هنري او ادبي آثار شاملېږي چې له تخيله رازېږېدلي وي او د ژوند واقعيتونه په هنري ډول څرګند کړي. پر لوستونکو او اورېدونکو باندې خپل خاص او ښکلی هنري اثر ولري او د هغه هنري ذوق تسکين کړي. دغه ادبي هنري اثر بايد په يوه داسې ژبني چوکاټ کې بيان شوی وي چې هم د ټولنيز ژوند هنداره وي او هم په لوستونکو او اورېدونکو کې يو احساس پيدا کړي.

د ادبياتو ددغه تعبير له مخې ګورو چې پښتو ژبه دغسې هنري، ادبي آثار لري او که نه؟ د دې پوښتنې ځواب مثبت دی .کله چې موږ د پښتو ژبې ادبي زېرمې وپلټو، نو وينو چې له پخوا زمانو څخه تر ننه پورې د دې ژبې ويونکو هنري او ادبي آثار منځ ته

راوړي دي چې هم يې نـاليکلي او هم يې ليکلي بېلګې موجودې دي. په دې برخه کې د موضوع د پوره څرګند ونې لپاره ادبيات په نا ليکلو او ليکلو برخو وېشو:

## د پښتو ژبې ناليکلي ادبيات:

دا به مبالغه نه وي که ووايو چې د سيمو په ژبو کې پښتو ژبه د ناليکلو ادبياتو د سرشارو سرچينو د لرلو له امله په لومړي کتار کې ولاړه ده. دا چې د پښتو د ناليکلو ادبياتو زېرمې نسبت نورو ژبو ته زياتې دي، د دې خبرې اصلي علت دا دی چې زموږ د خلکو زياته فيصدي د خپلو خاصو سياسي، ټولنيزو، اقتصادي، فرهنګي او جغرافيايي عواملو له امله له سواده بې برخې پاتې دي. په دغسې ټولنو کې چې سواد عام شوی نه وي، تر ليکلو ادبياتو د ناليکلو ادبياتو د منځ ته راوړلو زمينې ډېرې زياتې موجودې وي.

د پښتو نخوا، افغانستان، بلوچستان، سند، پنجاب او د کشمير په زياترو پښتني سيمو کې اوس هم د ناليکلو ادبياتو بېلا بېلې نمونې منځ ته راغلي خو د دغو سيمو په ښارونو کې دپښتو د ناليکلو ادبياتو د منځ ته راتلو زمينې محدودې او حتٰی له منځه تللي دي.

په پښتو کې د ناليکلو ادبياتو بېلا بېل ډولونه او د هغو زياتوالی موږ په دې باوري کوي چې زموږ خلکو که سواد نه

درلود، خو هنري ذوق او احساس ور سره و، چې خپل دغه ذوق او احساس يې د دغو ادبياتو په بېلابېلو ډولونو کې څرګند کړی دی.

زموږ خلکو د پېړيو په اوږدو کې خپل ارمانونه، خوښۍ، غمونه، خپلې مينې او د خپل ټولنيز ژوند کړه وړه په دغو ناليکلو ادبياتو کې بيان کړي دي.

دغه ادبيات په ناليکلي ډول خوا په خوا يا نسل په نسل را ليږدول شوي او د ليږدونې په دغه بهير کې کليوالي موسيقي هم خپل رول ادا کړی دی.

دې لړۍ د خپلو لارويانو له وختونو سره دوام کړی دی او د راويانو له منځه تلو سره دغه نا ليکلي ادبيات هم له منځه تللي دي او لکه هغه سارا يي خود رويه ګلان را ټوکېدلي او د بڼوال له پالنې پرته له منځه تللي دي.

څرنګه چې په هره ټولنه کې نا ليکلي ادبيات سينه په سينه ليږدول کيږي، نو ځکه يې لرغونې بڼې تر وروستيو پيړيو پورې نه رارسېږي. اوس چې د پښتو د ناليکلو ادبياتو کومې ثبت شوې بېلګې لرو، له ځينو ځانګړو موادو پرته په تاريخي لحاظ لرغونې نه دي، خو په ځينو دغه ډول سندرو کې مفکوره او د فکر څرنګوالی يې لرغونی دی.

په ځینو ډولونو کې یې د بنې جوړښتونه هم له ډېرو لرغونو زمانو څخه روایت کوي او له هغو آریایي سندرو سره نېږدې والی لري چې له زرګونو کلونو د مخه په دې خاوره کې منځ ته راغلي او روزل شوي دي. د پښتو د نالیکلو سندرو یوه بله ځانګړ نه داده چې په خاصه غاړه ویل کېږي.

---

سپارښتنې:

- ښاغلی ښوونکی دې له یوه زده کوونکي پوښتنه وکړي چې د لیکل شوو ادبي آثارو د کمښت علتونه ووایي.
- له زده کوونکو څخه دې درې کسه په وار سره د ادبي آثارو په هکله وغږېږي او نور زده کوونکي دې ورته غوږ ونیسي.
- زده کوونکي دې په ذکرشوي لوست کې پیوست او ناپیوست ضمیرونه په نښه کړي.

# نالیکلي ادبیات:

د پښتو ژبې نالیکلي ادبیات ډېر ډولونه لري چې ځینې یې سیمه ییز دي، دا په دې معنا چې یوازې په یوې ځانګړې جغرافیایي سیمې کې منځ ته راځي او په نورو پښتني سیمو کې رواج نه لري، خو ځینې ډولونه یې په ټولوهغو سیمو پورې اړه لري چې ددغه ډول ادبیاتو د منځ ته راتلو مینه وال او روزونکي لري.د نالیکلو ادبیاتو د بېلا بېلو ډولونو د ټولولو کار څه دپاسه له سلو کلونو را په دې خوا پیل شوی دی.

تر ټولو د مخه د پښتو نالیکلو ادبیاتو ته لویدیځ پوهان متوجه شوي دي چې د لوېدیځ پوهانو د دغو هڅو په لړۍ کې د جیمزډار مستېټر (۱۸۴۹-۱۸۹۴) کار تر ټولو ارزښتناک دی. ده د پښتو د نالیکلو ادبیاتو بېلګې په خپل مشهور اثر (د پښتونخوا د شعر هاروبهار) کې خوندي کړي دي.

زموږ په هېواد کې هم د پښتو د نالیکلو ادبیاتو د نومونو ثبت ته له شلمې پېړۍ را په دې خوا پام ګرځېدلی. په افغاني پوهانو کې اروانښاد غلام محی الدین افغان (۱۳۰۰ هـ ش مړ) دا کار تر هر چا دمخه پیل کړی دی،چې په سراج الاخبار افغانیه کې یې د پښتو متلونو بېلګې چاپ کړي دي.

تر ده وروسته په کندهار کې د پښتو ادبي انجمن په جوړېدو سره او بیا په کابل کې پښتو ټولنې دغو مرغلرو ته ډېره پاملرنه کړې ده، ارواښاد محمد ګل نوري په دې برخه کې(۱۳۵۲ هـ ش مړ) د لوی حق خاوند دی. ده د پښتو د نالیکلو ادبیاتو د ځینو ډولونو ډېرې خوند ورې او زیاتې بېلګې راټولې کړې دي.

تر محمد ګل نوري وروسته په افغانستان کې د پښتو ژبې نامتو لیکوال او شاعر حبیب الله رفیع چې کوم کارونه کړي دي، په وروستي بهیر کې د کیفیت او کمیت له نظره بې ساري دي.

د پښتو د نالیکلو ادبیاتو او پښتني فولکلور د تیوریکي او علمي مطالعې په لاره کې د اکاډیمسین کاندید محمد صدیق روهي، د اکاډمیسین کاندید عطایي او سر محقق دوست شینواري کارونه او کارنامې نه شو هېرولی.

## د نالیکلو ادبیاتو ډولونه:

د پښتو د نالیکلو ادبیاتو په څېړونکو کې ښاغلي حبیب الله رفیع د پښتو منظوم نا لیکلي ادبیات د خپلو ځینو خصوصیاتو له امله په دوو برخو ویشلي دي.

۱- عامې سندرې، یعنې هغه سندرې چې ټاکلي ویونکي یې په ښکاره توګه معلوم نه دي او په ټول ولس پورې اړه لري.

لکه: لنډۍ، سروکي، نارې، لنډکۍ د ښادۍ بدلې او نور...

۲- خاصې سندرې، په دې سندروکې هغه سندرې راځي چې زیاتې یې د نالوستو ولسي شاعرانو له خوا جوړېږي او یا جوړې شوې دي، یعنې شاعران یې معلوم کسان دي لکه: چاربیتې، بدلې، بګتۍ، لوبې، داستان ، مقام، کسرونه او نور...

پورتنی وېش تر ډېره حده پر ځای دی او د پښتو ژبې دولسي ادبیاتو په ډېرو څېړنوکې منل شوی دی. دا خاصې سندرې سره له دې چې زیاتره د بې سوادو ولسي شاعرانو له خوا ویلې شوې دي، د خپرېدو او لېږدولو بهیر یې هم دعامو سندرو په شان دی. دا خاصې سندرې هم زیاتره لیکلی ډول نه لري او سینه په سینه په نالیکلي ډول لېږدول کېږي.

خو دیادونې وړتکی د خاصو سندرو په هکله دا دی چې دا سندرې په ټولنه کې د ټاکلو کسانو له خوا ویل شوي دي. د ځینو دغو سندرو د اشارو او نښانو له مخې دویونکو د ژوند مهال او هم د سندرو د ویلو اټکل شوې زمانه ټاکل کېدای شي. په همدې اساس موږ د دغوکسانو ادبي تخلیقاتو ته د پښتو د ادبي تاریخ په ادبي دورو او ادبي پړاوونو کې د مطالعې ځای ورکولی شو.

د پښتو ژبې د نالیکلو ادبیاتو څنې ډولونه دا دي.

# لنډۍ

د پښتو ژبې په نا لیکلو ادبیاتو کې ډېرې مشهورې سندرې چې ټول پښتانه یې پېژني او آشنایي ور سره لري لنډۍ دي.

لنډۍ دوه مسریزه منظومه ده، چې لومړۍ مسره یې لنډه نهه سېلابه او دوهمه یې اوږده دیارلس سېلابه ده. د لنډیو یوه عمده ځانګړنه دا ده چې په دغه لنډ ښکلي چوکاټ کې بشپړ مفاهیم ځایولای او بیانولای شي.

لنډه یوته په ځینو پښتني سیمو کې ټیکۍ وایي، خو زیات خلک یې لنډۍ او ټپې بولي. زیاتره لنډۍ له هنري پلوه ډېر ښکلي انځورونه لري او په سادګۍ کې دومره ښکلې دي چې زموږ نورې سندرې د دغو خصوصیاتو له امله له لنډیو سره سیالي نشي کولی.

د لنډیو ویونکي معلوم نه دي. لنډۍ د عام ولس مال دی. یو شپون، یو اوښبه، یو بزګر او په زیاته اندازه زموږ کلیوالي ښځې او نجونې د لنډیو په ویلو کې لویه برخه لري. د پښتو په ځینو لرغونو دېوانونو کې ځینې لنډۍ هم راغلې دي لکه: د حسین او سید غلام ننګرهاري په دیوانونو کې.

ځینو معاصرو لیکوالانو لکه بریالی جان صاحب زاده، مرحوم صالح محمد هوتک صاحب زاده، محمد ادریس او نورو هم د لنډیو جوړولو خواته هڅه کړې ده او ځینې لنډۍ یې ویلي یا یې جوړې کړي دي.

را ټولې شوې لنډۍ د ټولو پښتني سیمو د لنډیو د موجودې زېرمې نماینده ګي نشي کولی بلکې یوه برخه یې را ټوله شوې او نورې ډېرې داسې لنډۍ په ولسونو کې شته، چې تر اوسه لا د کاغذ پر مخ نه دي لیکل شوي.

په لنډیو کې د پښتنو کلیوالي ژوند او د دوی د کلتور د بېلابېلو اړخونو ځانګړنو انعکاس موندلی دی او په هر ډول موضوعاتو پورې اړوندې لنډۍ موږ دخپلو دغو نالیکلو سندرو په مجموعو کې میندلی شو لکه:

وطن مې تن، تن مې وطن دی		د تن په بیه دې وطنه زه ساتمه
کـه پـه ژوندون وطـن تـه ولاړم		زه بـه یې کانې بوټي واړه ښکلومه
د مسافرو ځنکـدن دی		مخ یې وطن ته کړئ چې ساه یې وخېژینه
مـا د وطـن لـه تـړو ځـار کړې		کوچیانۍ پیغلې یې ورشو کې ژوند کوینه

# تاريخي نارې

دا يو ډول نارې دي، چې د پښتنو په ټولنيز ژوند اوسياسي تاريخ پورې اړه لري. دا ډول نارې د هوتکو د پاچاهۍ په پېښوکې د نادر افشار د راتګ او بيا د لوی احمد شاه بابا د دوران په پېښو پورې اړه پيدا کوي. دا تاريخي نارې ددغو د وړانونو په بېلا بېلو وختونو کې ويل شوي او په خلکو کې خورې ورې راغلې دي.

ډېر امکان لري چې د هوتکو تر پاچاهۍ د مخه دورو کې به هم دا نارې راغلې وي، خوله بده مرغه اوس تر موږه نه دي رارسېدلي. دا نارې ځينو مهمو تاريخي پېښوته هم اشارې لري چې د افغانستان د هغو د وړانونو د تاريخ په ليکنه کې د دغو نارو له محتوياتو استفاده کېدای شي.

ددغو نارو جوړښت په عام ډول دوه مسريز دی چې يوه مسره يې لنډه او بله يې اوږده ده، خو د دواړو قافيه يوه ده او دا هم د بېلا بېلو مهالونو څو تاريخي نارې:

که زمری دی شاه ولي د جنګ زمری دی
لــه ســـــنګرو يې ايســـــتلی مرهټی دی

---

سپارښتنه:

- ښاغلی ښوونکی دې له زده کوونکو د نارو د ارزښت په هکله معلومات وغواړي او په شعرو کې دې ورته وښيي.

# د نکلونو نارې

د پښتو دنالیکلو ادبیاتو یوه غوره برخه نکلونه دي، دپښتو نکلونه زیاتره د نکل د بیانولو او د کېسو په ترڅ کې ځینې منظومې ټوټې لري چې دا ټوټې د نکل په جلا ، جلا برخو او ټاکلو وختونو کې ځای لري او د نکل نارې بلل کېږي.

دا نارې دوې مسریزې او درې مسریزې دي، د نکلونو دوې مسریزې نارې کله، کله هم قافیه او کله هم نه وي لکه:

سر دسره پالنګه هسک کړه فتح خانه

یاغي شوی هندوستان رعیت ملکونه

✵ ✵✵

---

سپارښتنه:

- ښوونکی دې له ځو زده کوونکو څخه د فتح خان د کیسې په هکله معلومات وغواړي که پوه نه شول ښوونکی دې رڼا پرې واچوي.

# نکلونه

د پښتو ژبې د نالیکلو ادبیاتو ډېره خوند وره برخه نکلونه دي. دا نکلونه له پېړیو، پېړیو را هېسې د ولسونو په حافظه کې پاتې شوي دي او ځینې بڼې یې تر نن ورځې رارسېدلي دي. نکلونه د پښتنو د جلا ، جلا سېمو په کلیو او بانډوکې موجود دي. که یو نکل په یوه سیمه کې رامنځ ته شوی هم وي په همغه ټاکلې سیمې پورې اړه نه لري، بلکې نورو پښتني سېمو ته هم ورلیږدول شوي او عام شوي دي.

د پښتنو یو ډول خپل نکلونه دي چې چاپېریال ، اتلان او ټول کړه وړه یې پښتني دي او د پښتنو د ټولنیز ژوندانه په څېړنه کې له دې ډول نکلونو څخه ډېره ګټه اخیستل کېږي. د دوی د فرهنګ او دودونو د ډېرو پخوانیو ځانګړتیاووځینې څرکونه هم ورڅخه اخیستلای شو. دپښتني نکلونو په بیان شوو حکایتونو او پېښو کې د پښتنو همغو پخوانیوفرهنګي او ټولنیزو دودونو څخه کاراخلي

د پښتوژبې په نکلونو کې د ځینو نارو موجودیت ځینې څېړونکي په دې باوري کړي دي، چې دغه نکلونه به په لومړي سرکې منظوم منځ ته راغلي وي او بیا به یې د وختونو په تېرېدو سره منظومې بڼې هېرې شوې او دنکلونو خاکه به د خلکو په یاد کې پاتې وي

او بیا به یې د همدغې خاکې له مخې د ولس له عامې محاورې سره سم اوسنۍ بڼه غوره کړې وي.

د پښتنو په خپلو ملي نکلونو کې د آدم خان او درخانۍ ، مومن خان او شیرینو، طالب جان او ګل بشرې، موسیٰ جان او ګل مکۍ، فتح خان او را بیا ، جمال خان او زیب النسا او نور ډېر مشهور نکلونه بلل شوي دي.

بل ډول یې له نورو ولسونو څخه راغلي نکلونه دي چې د بېلا بېلو ولسونو تر منځ د لیږد یا رالیږد په بهیر کې له نورو ولسونو څخه پښتون ولس هم را اخیستي دي. په ځینو کې یې د فرهنګي غوښتنو او ټولنیزو دودونو له مخې یو څه په کې ور زیات کړي او یا یې ترې کم کړي دي چې په دې لړ نکلونو کې د شهزاده بهرام او ګل اندامې ، سیف الملوک او بدرۍ جمالې او ډېر نور د دیوانو او ښاپیریانو نکلونه شامل دي.

---

سپارښتنې:

- یو زده کوونکی دې د نکلونو او فولکلوري کیسو په هکله ټولګیوالو ته خبرې وکړي او بیا دې ښوونکی رڼا پرې واچوي.

- ښوونکي دې زده کوونکو ته دنده ورکړي چې په کلیو او باندو کې له مشرانو څخه فولکلوري کیسې متلونه او لنډۍ را ټولې او د یوه کتاب په توګه یې خوندي کړي.

# متلونه

متلونه د پښتو ژبې ناليکلو ادبياتو هغه درنې، پخې او په تول تللې خبرې دي، چې هغه د اروابناد استاد قيام الدين خبره د ژوندانه فلسفه ټوله په متلونو کې بيان شوې ده. متلونه هغه لنډې وينا وې دي چې دمعنا له پلوه بشپړې او دمفهوم له مخې علمي دي.

د متلونو فصاحت او بلاغت په دې کې دی چې متلونه د فورم په لحاظ لنډې جملې دي، خو د معنا له مخې ژور مفاهيم په کې رانغښتي دي. ژبه يې ساده، د خلکو له بيان سره سمه او نيغ په نېغه موخې ته رسېږي. د پښتو په ناليکلو ادبياتو کې متلونه په دوو برخو وېشلی شو. يو يې عادي متلونه دي چې دخلکو دعامو خبرو په څېر په لنډو جملو کې ويل شوي دي.

بله برخه يې هغه متلونه دي چې منظومې بڼې لري او ددوو مسريو په بڼه تنظيم شوي دي لکه دا متل:

بد به دې په زړه لرم

سلام به دې په خوله لرم

هغه متلونه چې بشپړه جمله هم نه وي خو د متل تر تعريف لاندې راتلی شي، لکه دا متل:

اوړه دې په اوړه، منت دې په څه.

دپښتو ژبې متلونه د موضوعاتو له مخې ډېر پراخ چاپېريال لري. د پښتنو د فرهنګ او دودونو په څېړلو کې له متلونو څخه ډېره زياته ګټه اخيستی شي. په متلونو کې ځينې داسې عناصر او ټکي شته، چې د تاريخي څېړنو په مرسته د پښتنو د ژوندانه ډېرو لرو زمانو ته رسېږي.

ځينې متلونه له ځينو حکايتونو او ځينو تاريخي پېښو څخه هم زېږېدلي دي. موږ د پښتو د متلونو په زيرمو کې دا راز متلونه ډېر پيدا کولی شو.

په افغانستان، بلوچستان او پښتونخوا کې ډېر پوهان د متلونو ارزښت ته متوجې دي. زيار يې ايستلی دی چې زموږ د ناليکلو ادبياتو دغه زېرمه له ولسونو را ټوله کړي.

په افغانستان کې مرحوم غلام محی الدين افغان، مرحوم محمد ګل نوري، اروابناد محمد دين ژواک ډېرمتلونه را ټول کړي دي.په دغو پښتنو سر بېره لويديځو پښتو پوهانو او نورو اروپايي پښتو څېړونکو هم د پښتو متلونو ټولولو ته هڅه کړې ده چې په هغو کې د تارن برن، ډارمستېټر او ځيني نورو نومونه دياد ولو وړ دي.

---

سپارښتنې:

- ښوونکی دې له زده کوونکو وپوښتې چې د متلونو په ارزښت خبرې وکړي.
- ښوونکی دې زده کوونکو ته دنده ور کړي چې هر يو پنځه پنځه متلونه په خپلو کتابچو کې ليکلي راوړي.

# دپښتو ژبې لنډې ناليکلې کيسې

د پښتو په ناليکلو ادبياتو کې ځينې لنډ حکايتونه هم شته چې ځينې نکلونه يې زموږ په ټولنه کې منځ ته راغلي او ځينې يې له نورو ولسونو څخه راغلي او پښتو شوي دي. نکلونه ټول ناليکلې بڼه لري.

د نکلونو په لړۍ کې ځينې يې په حيواناتو پورې اړه لري، دا ډول حکايتونه زياتره د زاړه ختيځ ادب له کتابونو پښتو ته راغلي دي او ځينې يې د ټوکو او طنزونو په ډول جوړ شوي دي.

دا لنډې کيسې او نکلونه زياتره په ټولنيزو او اخلاقي موضوعاتو سره پيل کېږي چې په ولس کې د اخلاقي نورمونو له پياوړتيا سره مرسته کوي او د دې ټولنې د خلکو د ټولنيزو ځانګړنو په پېژندنه کې له څېړونکو سره پوره مرسته کولی شي.

# کیسۍ

د ماشومانو په ادبیاتو کې ډېره خوند وره برخه کیسۍ دي چې د کلیوالو ماشومانو په ذهني وده کې ستره برخه لري.

کیسیو ته ځینې پښتانه اړونه او ځینې ټکونه وايي. په پارسي کې ورته چیستان ویل کېږي. هغه کېسۍ چې د پښتو په نالیکلو ادبیاتو کې شته ، زیاتره د ماشومانو تر منځ د ذهني ازموینې په ډول استعمالېږي. لکه:

سور دی سندوخک دی

د سرو غمیو ډک دی

لښته ده زرلښته ده

نه ما تېرې سخته ده

# د پښتو ژبې د نالیکلو ادبیاتو ارزښتونه

۱) د پښتو ژبې نالیکلي ادبیات سره له دې چې د خپلو شکلي جوړښتونو له پلوه رنګا رنګ دي، دغه ډول د پښتنو د ټولنیزو، ملي، سیاسي او فرهنګي ژوندانه ټولو خواوو ددې ادبیاتو په بېلا بېلو ډولونو کې انعکاس موندلی دی او ددغو ادبیاتو له څېړنو څخه موږ د پښتنو د فرهنګ او دودونو په څېړنه کې ډېره زیاته ګټه اخیستلی شو.

۲) هغه څه چې د پښتنو د ژوند د جلا، جلا اړخونو په باب په دې ادبیاتو کې بیان شوي دي، ډېر طبیعي رنګ لري او له هر ډول لاس وهنو څخه پاک دي.

۳) د پښتو نالیکلي ادبیات د خپلو ټولنیزو ارزښتونو تر څنګ په هنري لحاظ هم د بحث وړ دي. ددې ادبیاتو په ځینو ډولونو کې ښکلا او تصویرونه په ډېره لوړه هنري‌کچه سره غاړه غړې دي.

۴) پښتو نالیکلي ادبیات د پښتنو د عام ولس او د کلیوالو خلکو د هنـري ذوق او فکـري ودې د ځرګنـدولو پـه بهیـرکې خپـل ځانګړی رول لـري. ددې ادبیـاتو مطالعـه دا را ښیـي: کـه زمـوږ عـام ولـس لـه ښـاري او متمـدن ژونـد څخـه لـرې پـه غـرو، درو، بېـدیاوو، دښتـواو کیـږدیو کـې هـم ژونـد کـوي.د هنـري ذوق تـر څنګه یې د ټولنیز ژوند او د چاپېریال دمسایلو په باب ځانګړی فکر هم درلود ، ددوی دغه ډول فکري او هنري ځانګړنې موږ د دغو ادبیاتو په بېلا ، بېلو ډولونو کې لیدلی شو.

لنډه دا چې پښتـو ژبـه دلیکلـو ادبیـاتو ترڅنګـه د نـا لیکلـو ادبیـاتو داسـې غـوره زیرمـې لـري چـې مـوږ یـې د پښتـو د ادبـي تـاریخ پـه مطالعاتو کې له پامه نشو غورځولی.

---

سپارښتنه:

- یو څو زده کوونکي دې د پښتو د نالیکلو ادبیاتو په هکله خبرې وکړي.
- یو څو زده کوونکي دې د نالیکلو ادبیاتو د راټولولو په ارزښت وغږېږي.

# دپښتو ژبې لیکلي ادبیات

د پښتو آثارو کوم اسناد چې تر موږ پورې رارسېدلي دي، ددغو اسنادو له مخې د پښتو تر ټولو پخواني لیکل شوي او ثبت شوي ادبي اثار په دوهمې هجري پېړۍ پورې اړه لري.

له دغه وخت څخه تراوسه پورې په زرګونو شاعران، ناظمان او لیکوالان په دې ژبه کې تېر شوي دي چې په پښتو ژبه یې کتابونه لیکلي، د اشعارو دېوانونه یې ترتیب کړي، له نورو ژبو څخه یې اشعار او آثار په پښتو ترجمه کړي دي چې دغه ټول آثار اوس زموږ ښکلې لیکلې فرهنګي زېرمې دي.

فرهنګي زېرمې ځکه ورته ویلی شو، چې د پښتو ژبې ټوله لیکلې ذخیره ده چې د څه د پاسه  دولس نیم سوو کلونو په اوږدو کې منځ ته راغلې ده.

د پښتو ژبې د لیکلو آثارو کومه زېرمه چې اوس په لاس کې ده ، په هغوکې منظوم او منثور آثار شامل دي. په منثورو آثارو کې له مسجع او قافیه والو نثرونو څخه نیولې، دنن ورځې تر روانو، ساده او د هنر اوښکلا په ګانه سمبال شوو نثرونو پورې په کې شامل دي.

په منظومو آثارو کې له بېلابېلو برخوڅخه یوه غوره برخه د پښتو لرغونې سندرې دي.

د پښتو لرغوني سندرې، د خپلو شکلي جوړښتونو له مخې د زاړه آریایي دوران او اوسنیو ولسي ادبیاتو تر منځ د پیوستون کړۍ بللی شي.

همدرانګه د شرقي شاعرۍ شعري ډولونه د پښتو په لیکلو شوو زېرمو کې یوه لویه برخه ده چې دختیځ د نورو ژبو، لکه پارسي، عربي، اردو، ترکي په شاعرۍ کې هم موندل کېږي.

پښتو ژبې هم دغه ډول شعرونه له خپلو نورو ګاونډیو ژبو څخه اخیستي دي. په دغه شعري ډولونو کې موږ قصیده، غزل، رباعي، قطعه، مثنوي، مربع، مخمس، مسدس، مسمع، معشر، ترجیع بند، ترکیب بند او نور شعري ډولونه یادولی شو.

---

## سپارښتنې:

- ښوونکی دې له زده کوونکو وپوښتي چې د ادبیاتو د ارزښتونو په هکله یې چې څه زده کړي دخپلو ټولګیوالو په مخکې ووایي.
- یو څو زده کوونکي دې د پخوانیو او اوسنیو لیکوالو او شاعرانو نومونه واخلي.
- زده کوونکي دې یو شعر غوره کړي او په هغه کې دې د قافیې ډولونه وښیي.

# اخلاقي درس

چـــې مـــدام د بـــــل و عیـــب و تـــه نـــظر کـــــړې
خـــدای لـــه خپلـــه عـیـــبه ولـــې بې خبر کـــړې

کــه یــوه جــودانـــه عـــیـــب وینې پـه بـــل کې
هغـه یـــوه جـــودانه عـــیـــب به یـــې لـــوی غـر کـــړې

کـــه دې خـــپله ګـناه لـــــویـــه لکـــه غـــر وي
پـــه حـــیـلـه حـیـلـــه بـــه غـــر د مـــچ و زر کـړې

کـه څوک تلـــه د انـصاف پـــه لاس کې در کا
خـــپل تـتـــو او د بـــل آس بـــه بـرابـر کـــــړې

تـو لعـــنـت دې پـــه داهـــســې مـــنـصـــفی شـه
چـې لـــه حـــقـــه و بـــاطـــل وتـــه ګـــوزر کـــړې

تـــا تـــه رب د مـــــلایـــــکو مــــقـــام در کـړ
تــــه دا خـــپل صورت پـه خـــپلـــه ګـاو و خـــر کړې

کـه دې یـو وبښـــته د ځـان له پاســـه کـوږ شـي
ځـــان هغـــه ســاعـت لـــه خـــدایـــه مـــرور کړې

د ځـوانـــۍ عـــمـــر دې تېـر کـړ پـه غـفـلت کې
پـــه پـیـرۍ کې بـــــه څه زېرمه د مـحـــشر کـــړې

په دنیا پسې دې نمري دي رنګ کړې
ځان و خلکو ته درویش و قلندر کړې

په پیرۍ کې د ځوانۍ چارې نه ښایي
ته په ورځ دعا شورا به څه اختر کړې

لکه بیخ د زړې ونې چینجي وخوري
په دا تېر عمر به څه شاخ و ثمر کړې

دغه باغ به دې خلاص نه شي له خزانه
که چاپیره ځنې سد سکندر کړې

و بد خواوته څوک نیک نصیحت نه کا
(رحمان) ستا په غم شریک دی که باور کړې

(رحمان بابا)

---

سپارښتنې:

- یو زده کوونکی دې د پورته شعر په مفهوم باندې خبرې وکړي.
- زده کوونکي دې په وار سره یو بیت په تخته ولیکي او یو دا وطلب زده کوونکی دې هغه معنا کړي.

# د وطن مينه

د افغانـانو د خپلواکـۍ لومړۍ نښـه د وطـن مينـه ده. هـر افغـان لـه خپل وطن سره د زړه مينه لري، د وطن په لار کې سر ور کول، ځان قربانول، ژوند ځارول، لوی فخر او سر لوړي بولي. د خپل هېواد شاړې مېرې ورته له کشميره زياتې ښکاري.

د وطن مينـه د ايمـان يـوه ټوټـه او دا محبت د افغانيت اولـه خښتـه شميري. راځـئ چې اوس د شـاعرانو، اديبـانو او پوهـانو لـه خـولې څخه د وطـن د مينې خوږې نغمې او پخې جذبې واورو. خوشحال خان وايي:

د خوشحال خټک خوښي نشـي بې ســرايه
خپل وطن يــې وهـر چـاوتـه کـشمير کـړ

چې پــه کــې خـــوارږه يـــاران دي
پېښـــور تـر هـــر ديـــار ښـــه

ښه په هنـد کې چمبـــا ګـــل دی
تـر دا ګـل د وطــــن خــار ښـــه

چې سړې او به دغره نشته په هند کې
ترې توبه، که واړه ډک وي له نعيمه

تاسې وګورئ چې هند په دنيـا کې څومره ودان ملـک او دسرو زرو مرغۍ ده، مګر يو افغان يې له خپل غره سره نـه برابروي، ورځنې

توبې وکارې او د وطـن ازغــي د هــنــد له ګلانو ښه ګڼي. رښتيـا چې مينه او محبت همدې ته ويلی شي.

کله چې اشرف خان هجري د مغلو په بند کښېـووت او لـه خپـل خواره وطن څخه په وتو شو نو ډېر يې وژړل:

ما هاله مــاتم دځان وکړ په وينـو
چې اټک و ته مې شا کــړه پـه ژړا شـــوم
اوس به څه د وطن کاڼي بوټـــــي ژارم
درخـصت سلام مـې کـړی ترې جدا شوم

په هند کې بندي هجري د وطـن پـه يـاد ډېرې سوې نـارې لـه خولې ايستلې دي لکه چې وايي:

بې وطنه تنها پروت يم په غربت کې
نن له ماسره همدم د صنم غــــم دی
قاصدان له روهه نه راځي مدت شو
سلام بــاد را رسوي منت يې تم دی

د احمد شاه بابا غونــدې ستــر واکـمــن او لـوی پاچا هم د خپـل غزني وطـن په يــاد لـه هند څخه ډېرې دردمنې چغې وهلې دي:

که هر څومې د دنيا ملکونه ډېر شي
زما به هېر نشي دا ستا ښکلي باغونه

د ډیلي تخت هېرومه چې را یاد کړم

زما د ښکلي پښتونخوا د غرو سرونه

یوبل پښتون شاعر رزق الله دهند په ځمکو د وطن په مینه کې هسې ویلي دي:

| | |
|---|---|
| خوار غریب او بې نوا وای | خو وطنه ستاپه خوا وای |
| واته غوارمه لــه هنــــده | په وطـــن برخه زمــاوای |
| چېرهارکې کلا شیخ وای | رزق الله او مشـــغولا وای |

شمس الدین کاکړ دهند ځنګلونه یو قفس بولي او دوطن په یادېې دغسې ژړغونې نارې وهلې دي:

| | |
|---|---|
| مدام ژړا کړم په نــارې نـــارې | یارمې یادېږي وهم کـو کـارې |
| دهند ځنګلې راته قـفس شـوې | ورکې له ماشوې دوطـن لارې |
| دهند هواکـــړم خوارو حـزین زه | لــه حـرار تــه یـم آتـشین زه |
| سایـه دځـوزو دوطـن غــوارم | چې زړه خنک کړم په ترنجبـین زه |

---

سپارښتنې:

- ګرانـو زده کوونکـو! د لوسـتل شـوی لوسـت مطلـب پـه خپلـو کتـابچو کـې ولیکئ.
- یـو زده کـوونکی دې لـه وطـن سـره د مینـې پـه هکلـه د ټـولګي پـه وړانـدې خبرې وکړي.

# امیر کروړ سوري

امیر کروړ سوري د سور د کورنۍ یو نومیالی، جنګیالی، توریالی امیر دی چې سر بېره په توریالیتوب او نارینتوب د پښتو ژبې یو سپیڅلی او ښاغلی شاعر هم و. پټه خزانه د شیخ کټه د لرغوني پښتانه په حواله او هغه د تاریخ سوري په روایت د امیر کروړ په باره کې هسې ویلي دي:

امیر کروړ د امیر پولاد سوري زوی و چې په (۱۳۹ هـ ق کال) د غور په مندېش کې امیر شو او جهان پهلوان یې باله، نقل کا چې امیرکروړ ډېر غښتلی او پهلوان و چې په یوه تن له سلو جنګاورو سره جنګېده، ځکه یې نو کروړ باله چې معنا یې ده کلک او سخت. وایي چې امیر کروړ به په دوبي په (زمینداور) کې و او هلته یې ماڼۍ درلوده چې کټ مټ د مندیش په شان وه.

په تاریخ سوري کې یې راوړي دي چې دا امیران له پیړیو په غور، بالشتان او بست کې وو او د هغه سور نومي له اولاده دي چې د سهاک له پښته وو.

امیر کروړ د عباسیانو په پلوۍ له بني امیه وو سره ډ یرې جګړې کړې وې او ډ یرې سوبې یې وکړې نو دا بیتونه یې وویل چې ویاړنه یې بولي.

زه یم زمری پردې نړۍ له ما اتل نشته
په هند وسند و پر تخارو په کابل نشته
بل په زابل نشته　　　　له ما اتل نشته

غشی د من مې ځي برښنا پر میر ځمنو باندې
په ژوبله یو نم یرغالم پر تښتېدونو باندې
په ما تېدونو باندې　　　　له ما اتل نشته

زما د بریو پرخول تاویږي هسک په نمنځ وپه ویاړ
د آس له سوومې مځکه ریږدي غرونه کاندم لتاړ
کړم اېوادونه وېجاړ　　　　له ما اتل نشته

زما د تورې تر شپول لاندې دي هرات وجروم
غرج و بامیان و تخار بولي نوم زما په اودوم
زه پېژندوی یم په روم　　　　له ما اتل نشته

په مروه زما غشي لوني ډاري دښن را څخه
د هرې رود پر څنډ و ځم تښتې پلن را څخه
رېي زړن را څخه　　　　له ما اتل نشته

د زرنج سوبه مې د تورې په مخسور و کړه
په باداری مې لوړ اوی د کول د سور و کړه
ستر مې تر بور و کړه　　　　له ما اتل نشته

خپلو وګړو لره لور پېرزو ينه کوم
دوی په ډاډينه ښه بامم ښه يې روزنه کوم
تل يې ودنه کوم لــه مــا اتــل نــشــتــه
پر لويو غرو مې وينا درومي نه په ځنډو په تال
نړۍ زما ده نوم مې بولي پر دريځ ستا يوال
په ورځو شپو مياشتو کال لــه مــا اتــل نــشــتــه

دا شعر د معنا له مخې يو حماسي او فخريه شعر دی چې په پښتوژبه کې يې ويارنه بولي او د جوړښت له مخې د مستزاد شکل لري، خو په عمومي ډول ورته سندره ويلی شو.

د موجوده سندرو له مخې د امير کروړ دغه شعر د پښتو ژبې په لاس راغلی لومړی ليکلی شعر ګڼل کېږي، مګر که چېرې د دغه شعر قوت، متانت او پوخوالي ته ښه ځېر شو، نو په باور سره ويلی شو چې د يوې ژبې لومړنی شعر دغسې قوي او پوخ نه شي راتلی.

ښايي چې له دې شعرڅخه پخوا به هم پښتو ژبې د شعر ويلو لومړۍ دورې تېرې کړې وي چې يو دغسې درونډ، خوندور او لکه د مرغلرو د امېل ښايسته پېلی شعر په کې ويل شوی دی. د امير کروړ په دغه شعر کې دومره قوت، جوش، د الفاظو خوږ والی او درونډوالی پروت دی چې په تېرو ديارلس سوو کالو کې يې هم د مستۍ ځپې نه دي کښېنسته شوې او لا هاغسې لکه ځپاند سيند غورځنګونه وهي.

په دغه شعر کې پر حماسي او جنګي روح سر بېره د پښتوژبې ډېر سوچه، خواږه او درانه لغات راغلي دي چې ځينې يې تر اوسه هم دود لري لکه لتاړ، ويجاړ، ځنډ اوتهال او ځينې يې د دوولسمې پېړۍ په ادبياتو کې هم په دغه معنا خوندي ساتل شوې دي لکه ويار، نمنځ، دښن، سوبمن، مګر ځينې په کې داسې لغات هم شته چې نه په محاوره کې پاتې دي او نه په وروستيو اشعارو کې ليدل شوې دي، لکه ويار، نمنځ، دښن، سوب، من، مګر ځينې په کې داسې لغات هم شته چې په محاوره کې پاتې دي او په وروستيو اشعارو کې ليدل شوې نه دي. لکه او دوم، چاره او علاج، دريځ، منبر، زړن، زړور، بامم، پالم او نور.

امير کروړ په **۱۵۴** هـ کال د پوشنج په جنګو کې مړ شو او تر ده وروسته يې زوی امير ناصر هېوادونه ضبط کړل، د غور، سور، بست او زمينداور پر ځمکو خاوند شو.

---

سپارښتنه:

- ښوونکی دې له زده کوونکو وغواړي چې په خپل منځ کې د تاريخي شخصيتونو او د هغوی د کارنامو په هکله نظر ځرګند کړي او يو تن دې د نورو په استازي توب خبرې وکړي.
- زده کوونکي دې د امير کروړ د حماسي شعر د پوخ والي په اړه ټولګيوالو ته څه ووايي.

# غوره وینا

په دنیا کې له دنیا ګوښــه کنار شــه
سمندر غونډې په اور کې ګــلعذار شه

پس له مرګه که سر غواړې سر ګیاه کړه
په پريکړې سر بيـا نوی مــرغزار شــه

دا ترخې اوبه بـه څـه کـوې د بـــحـر
خـود په خپله د ګـوهر په څېر آبدار شه

بې له خدايه نو رد هيچا منت مه کړه
پـه وچ کـاڼې بـانـدې ونه د کهسار شه

که د ونې په څېر ګل و مېـوه غــواړې
ځـان پـه نـمر کـه سايـه بـان دهر خاکسار شـه

لاس په لاس که د خپل کار په درستــول يــې
لا په خـوا تـر ځـان ړومبی د بـــل پـه کار شـــه

کــه دې وېره شي د خــپلې درمـانـدګۍ
د درمـانـده وو دستګـيـري کـړه خــبر دار شــه

که هوا دې د جنت په خاطر ګــرځي

خـاک نشــین پــه آستــانــه د هغــه یــار شــه

کـه په تـوره تـاریکۍ کـې رڼا غواړې

ننـدار چـي د یـار د زلـفـــو د رخســار شــه

که په کار دې د سرو شونډو شیریني وي

د خپل ځان په وینو ســور لــکه انــار شه

که راضي یې چې دې باغ شي د زړه سبز

پـه ژړا لکــه بـــاران د نـــو بــهار شـه

د رحمان په عاشقۍ کــې ســترګۍ وشــوې

چې څوک وایي عــاشق ړوند دی هغه خـــوارشه

(رحمان بابا)

---

## سپارښتني:

- یو زده کوونکی دې د رحمان بابا د ژوند په هکله معلومات ورکړي او بـل زده کوونکی دې د پورته شعر په مفهوم خبرې وکړي.
- ګرانو زده کوونکو! هر یـو زده کـوونکی دې د یـو یـو بیت معنـا پـه خپلـه کتابچه کې ولیکي.

# د پښتو ژبې ادب رنګا رنګ اړخونه

پوهان وايي چې انسان د ژوند او په تېره د ښه ژوند کولو لپاره پيدا دی. د انسان په ټولو پوهنو او فنونو کې تر ټولو مشکل فن او ګرانه پوهنه دښه ژوند کولو فن دی. په نړۍ کې هغه ځوک، هغه ولس او هغه ټولنه تر هر چا زياته نيک مرغه ده چې د ښه ژوند کولو په فن او لارو چارو پوهېږي، مګر دښه ژوند کولو د لارو چارو په موندلو کې لا د بشر دماغ لګيادی او آخري پړاوته نه دی رسېدلی. د زمانې قافله سرګردانه او لالهانده ده او د نېکمرغۍ په لټون پسې پرله پسې پړاوونه وهي. کاظم شيدا ويلي دي:

چې جرس يې خالي نه شو له فغانه　　　　قافله ده ددې دهر سرګردانه

د جرس په زړه کې يو عشق دی، يو سوز دی، يو درد دی، يوه آرزو ده او دغه د ژوند د شروع کېدو لومړی ګام او لومړۍ پوړۍ ده.

عبد العظيم ويلي دي:

زړه چې يې له عشقه په ګوګل کې ټول رپېږي

ځي په زوره زوره فرياد ځکه له جرسه

عشق په ابتدا او انتها کې د زړه د رپېدو د جرس د فرياد او د ژوند د حرکت علت دی، د ژوند پيل هم يو عشق دی، يو فرياد دی او انجام هم همدغه شی دی، پښتانه اديبان د سوز او درد خاوندان عشق او سوز ته په کومه سترګه ګوري.

حمید بابا عشق ته د هر علم استاد وایي:

د حمید رښتني عشـقه　　　　په هر علم کـې استاده

مګر ګورئ چې دلته د رښتین والي صفت هم ورسره ملګری شوی دی. د دروغـو عـشق هیـڅ شـی دی، نـه اسـتاد دی او نـه دټولـو مخلوقـاتو پـلار، پـه عـشق او مینـه کـې صـداقت او رښتیـا اصلـي جوهراو اساسي عنصر دی او که دغه نه وي، نو بیا خـالي هـوس او تـش جـوش دی. رحمـان بابـا پـه هغـه عاشـق سلام وایـي چـې دغــه جـوهر په کې ځلېدونکی وي:

چې مجنون غوندې په مینه کې صادق وي

رحـمـان وایــي په هـغــو بانـدې سلام

د نړۍ په هر کار کې چې چاته کومې سختۍ او کړاوونه پېښېږي یا یـو مـین چـې د لـیلا کورتـه زړور نـه شي ورتلی، ددې ټولـو وجه پـه مینـه کـې د صـداقت او رښتیـا نشتوالی یـا کموالی دی، کـه نـه، د یـوه پـاک ضـمیر او سـپېڅلي وجدان فیـصله داده چـې رحمـان بابـا کړې ده.

که مجنون غوندې په مینه کـې صـادق شي　　　　د لیـلا پـه دروازه کـې دربـان نـشتـه

تر صداقت وروسته د ژوندانه د کامیابۍ اوبریالیتوب او نېکمرغۍ لپاره لازمي عنصر زیار، زحمت، عزم او همت دی.

د مقصد مرغلرې هغه وخت لاس ته راتلی شي چې سړی دوینو پـه دریـاب کـې غـوټې ووهـي او د مـرګ غـېږې لـه غـاړه غـړۍ ورشـي، حمید مومند وایي:

څو د وینو د دریاب مرجو ټا نـشـي　　　　مـشرف بـه ددې در پـه رټا نشـې

خوشحال وايي:

مرجو ښا درو مرجان هله ولـــجه کا  چې قبول کـــاندي د بحر خونی چلې

تر دې پورته د ژوندانه دښه والي او لوړ والي ماڼۍ د اخلاقـو اوښـو خويونو په بنيـاد ولاړه ده. ټول آسماني دينونـه د ښو خويونو تبليغ کوي.

حضرت محمد ﷺ فرمايلي دي: زه دنيا ته ددې لپاره رالېږل شوی يم چې ښه خويونه بشپړ او پوره کړم، ښه خويونه ډېر دي مګر ښېګڼه، خوا خوږي ، نيـاو ، انصاف او د زړونو ساتل يې غوره سرليکونه دي. په دې برخه کې هم پښتني ادب له ډېرو قيمتي مرغلرو ډک دی. خواجه محمد بنګښ په څه خوندوره او اغيزناکه ژبه ويلي دي:

زړونه مه ماتوه لال د بدخشان دی  مشکل کار دی رغول د شکسته وو

د نورو غمونه خوړل او د خلکو بارونه پـه سر وړل د انسان د نجات او سلامتی لو ی سبب دی.

رحمان بابا ويلي دي:

هغه زړه به له طوفانه په امان وي  چې کشتۍ غوندې د خلکو بار بردار شي

خوشحال ويلي دي:

د هغه قـدر لرم تـرې به ځـاربـږم  چې په غم کې چاره جوی د بې چاره شو

کـاظم شيدا پـه ژوندانـه کـې دلويـو او وړو لپـاره يـوه ښـه لارښوونـه کړې ده.

د ذرې په احوال تل د لمر نـظر وي  لوی دې نه ګوري واړه په سترګه سپکه

کشرانو ته يې داسې ويلي دي:

سرګردان کاندي ګرداب خلاف د بحر　　　　　پیـــروي د لـویو ده بـې مـضـر ته

د وړو ذرو پالنه د لویۍ نښه ده او د مشرانو مخالفت د کشرانو د سرګردانۍ سبب دی. که کشران او مشران دواړه د ژوندانه په دغه فلسفه عمل وکړي یقیناً به د سعادت او خوښۍ په تالونو کې وزانګي. د پښتو د لرغوني ادب لمن له ډېرو رنګینو لالونو څخه ډکه ده. د غریبانو د همدردۍ ورمونه په کې له حده ډېر دي.

عبدالعظیم د انتقاد په رنګ کې ویلي دي:

هر سړی کـړي رعـایـت دزو رورو　　　　　باري نه کړي د عاجزو رعایت څوک

علي خان ویلي دي:

هر غني چې د لجویي د فقیرنه کا　　　　　زورور دی په خانانو حساب نه دی

حمید د درس او تعلیم په باره کې ویلي دي:

ونیو مه شه هغه زوی دې په خوا پـورې　　　　　چې یې نه نیولی درس وي نه مکتب
په غـوجل کې بـــاري خر او کچر ښه دی　　　　　نـه په خونه کې جاهل او بې طـــلب

دغه شعرونه څه کم درې سوه کاله پخوا ویل شوي دي خو د شلمې پیړۍ د نظر یې په چوکاټ برابر دي.

میرزا انصاري د روزنې په باب ویلي دي:

که بها نه یې د باغبان تربـیـت نـه وي　　　　　دغه دومره فیض به چـا وور لـه پـالـیزه

دولت خان لوانی د قومي مینې په برخه کې ښخي ددغه عصر نظریه لري.

له خپل قام سره دوستي نه کاکم اصل　　　　　چې واصل وته رجوع لري اصیل دی

کاظم شیدا د زمانې سخن سازي هم بې مترو کې نه پرېږدي او ویلي یې دي:

راست ګویان لکه مرات شیدا حیران دی

په هر لور د زمانې سخن ســازي ده

او بې علمه خبرو ته په سپکه سترګه ګوري. رحمان بابا په دې برخه کې څه ښه ویلي دي:

کار په تش لستوڼي نه کیږي بې لاسه

لاس په توره کړه بې لاسه آستین مه شه

مطیع الله ویلي دي:

په قصو مطلب مونده نه شي پسې پاڅه

له ګفتاره چا کردار موندلی نه دی

فضل احمد افغان ویلي دي:

د دریاب هره څپه وایي چې پاڅه

خوځول به دې د لاسو پورې باسي

په تدبیر که دې د بام سوری بند نه کړ

دا تقدیر دی چې هغه کوټه به ښاخي

تفریحي ادب هم د ژوند یوتوکی او د ژوندانه د ښه کولو لپاره یوه روحي غذا ده. په دې برخه کې هم پښتو ادب د ګلونو غنچې څه چې د ګلونو ګیډۍ لري. خوشحال په دې میدان کې ترهر چا زړور او غښتلی دی او ویلي یې دي:

وګوره و ماته د شهـــــسوارو روش دادی

ښښې ته نظر کا بیا له پسه ښښه ولي

ته چې آیینه په لاس کې واخلي حیرانیږي

زه له کومه راوړم صبوري او تحمل

او س درحمان بابا د شعر رنګيني هم وګورئ:

سره په وينو د سرو ګلو په څېر زانـګي
هزار زړونه ستا دزلفو په هر خـم کـې

او دا بيت هم وګورئ:

دا هلال دی چې ليده شي په شفق کـې
که په لاس د ګل اندامې ســپين وښی دی

حميد د نازک خيالۍ استاد دی، بيايې هم خپله نازکخيالي داسې ښکاره کړې ده:

خونخوار خيال د يار رانه غی، تماشې له
که مې زړه ورته د وينو فـواره که
په هر ځای کې ناست ولاړ زانګم له غمه
مينې مخ راته د ځمکې ګهواره که

---

سپارښتنه:

- ګرانو زده کوونکو! د رحمان بابا د لاندې بيت په هکله يوه مقاله وليکئ.

هغه زړه به له طوفانه په امان وي چې کښتۍ غوندې د خلکو بار بردار شي

# د ژوند ورمونه

په دوستانو تلطف کړه څو په تــا شــي
له  دښمن سره هم ښه کوه خُلـــقت

د نمانځه تر قضا ګرانه دا قضــا ده
چې قضا شي د څـلورو مصلـحت

نوراني کا هغه ځای چې سره کينـــې
د پرينه څلـور هوښيار په مشورت

چې په تشه تواضع کې ګټه کيـږي
هومره سو د نشته د ډک طباخ  دســت

که حاتم غوندې کرم کړې د مهرانــو
د يوې مړۍ په چامــه ږده منــــت

چې بدانو سره بد شي هومره ښــه دی
ولې عفو کــرم ډېر لـــري لـــذت

که دې سر ځي که دې مال ځي که دې نــور څه
استــوار اوســه پــه کار د رفـاقت
پـــه ظـاهر باطن کفران د نعمـت مه کړه
هــوا خوا اوسه د خپل ولي نــعمت
که راحت غواړې په ځان محنت قبول کړه
بې مـحنته هېڅوک نه مــومــي راحــت
که دارو په خواست مونده شي مه يې اخله
کـه دې مرګ وته نژدې کانـــدي زحمت
که آسمان دې د زمري په خوله کې ورکا
د زمري په خوله کې مه پرېــږده هــمت
که ژوندون دی هم هغه دی په جهــان کې
چې ياد پرېږي د سړي د خوی خصلت
(خوشحال ختټک)

---

سپارښتنه :

- يو زده کوونکی دې نورو ټولګيوالو تـه ووايـي چې د رحمـان بابـا لـه شعر څخه يې څه زده کړل.

# موسيقي

کوم شی چې زړه او روح ته دايمي خوشحالي ورکولی شي او يا ورته د روح غذا، هغه ته د زړه دوا ويلی شو، هغه يوازې موسيقي او ساز دی چې د يوه قوم په رګونو او پلو کې د ژوند ساه اچوي، وينه يې په جوش راولي، هډونه يې خوځوي، زړونه يې اوچتوي، احساسات او جذبات يې وېښوي، هغه د هغه قوم او ولس خپل ساز او خپل ټنګ ټکور دی.

يو قوم چې له فنا او مړينې څخه ساتي ،له لټۍ او بېکارۍ څخه يې ژغوري خوب او غفلت ته يې نه پرېږدي هغه هم د هغه قوم نغمې، ملي آهنګونه او سندرې دي.

ملي نغمې او ملي آهنګونه په حقيقت کې د طبيعت د ښايست او ښکلا جلوه او د فطرت د آوازونو او غږونو يو خوندور تال دی.

کله چې برښنا پړک وهي ياوريځ وژاړي، کله چې پرخه د ګل مخ ووينځي او د لمر پلوشې يې ورله وځلوي، کله چې د شنو ځنګلونو شين وزرې توتيان په زرغونو ښونو کې دالوتو وزرونه خپاره کړي، کله چې زرکې د غرو په لمنو کې درنهو او بو په غاړه په کټ کټ وخاندي، کله چې د شمع پر مخ د پتنګ دورې پيل شي، کله چې درنګ اوبوی قافلې د غونچې له رباطه د لېږد او کوچ جرس

وغږوي، کله چې د پسرلی په شینلیو او زېړوګلونو کې د کوچیانو رمې په څرېدو لګیاشي، کله چې د ښتو هوسۍ د پسرلي په ګلونو کې په ټوپونو لاس پورې کړي، کله چې د جګو غرونو بازان د زرکو او تنزرو په ښکار پسې سمه او غر په مخه واخلي، کله چې د اباسین څپې په غورځنګ راشي، کله چې د جنګ په ډګر کې د تورو او زغرو برښنا وځلېږي، کله چې د ننګ په میدان کې د پښتو او پښتو نولی سینونه په مستۍ راشي، نو په دغسې وختونو کې د طبیعت ټول شیان د یو لطیف جوهر په څېر یاد شاعر په وینا کې یا د سندربول په آواز کې او یا د یو ماهرانځور ګر په انځور کې خپل ښایست او جمال ښکاره کړي او کله چې د ژوندانه او طبیعت دغه ټول لطفونه، خوندونه د شاعر په خوږو کلماتو او د سرودګر په نرم پوست غږ کې یو ځای خپل ځان ونښیي، د روح غذا، د زړه دوا، د رنځ شفا ترې جوړه شي او خلک یې بیا سندرې او ساز بولي.

---

سپارښتنې:

- یو زده کوونکی دې د ملي موسیقۍ د ارزښت په هکله خبرې وکړي.
- بل زده کوونکی دې په ټولنه کې د لتۍ او بیکارۍ د زیانونو په هکله خپلو ټولګیوالو ته خبرې وکړي.
- یو زده کوونکی د ځینو روحي ناروغیو په تداوۍ کې د موسیقۍ په ارزښت وینا وکړي د اړتیا په وخت کې دې ښوونکی رهنا پرې واچوي.

# پسرلی

د پسرلي ښکلونکي بيا کړه سينګارونه
بيا يې ولونل په غرونو کې لالونه
مځکه شنه، لاښونه شنه، لمنې شنې شوې
طليسان زمر دي واغوستله غرونه
د نيسان مشاطې لاس د مچيدو دی
مرغلرو باندې وښکلل بڼونه
د غټو لو جنډې خاندي وريدي ته
زرغونو بڼو کې ناڅي څلمي جونه
لکه ناوې چې سور ټيک په تندي وکا
هسې وګاڼل غټو لو سره پسولونه
مرغلرې چې اورو، وخونوليه
په څلا يې شوه راڼه خپاره دښتونه
سپينې واورې ويلېده کاندې بهېږې
لکه اوښې د مين په ګرېوانونه
هر پلو د ګلو وږم دی لونلی
ته واراغله له ختنه کارو انونه

د مسیح په پو به مړو ژوندون بیا موند

پسرلی مګر مسیح سو په پو کړنه

له مړو خاورو یې آغلی ګل راویوست

وچ بېد یا او غریې کړله جنتونه

د زلما تاپی راغلی پر جنډیو

لکه پېغله غوټۍ کاندي مکیزونه

د پو پلو مخ سور کړی پسرلي دی

یو د بل په غاړه اچوي لاسونه

د هېندارو په څېر غرونه سپین وړنګن دي

چې پر واورو باندې ځل وکا لمرونه

په غورځنګ غور ځنګ له خولې ځګونه باسي

لکه شن هاتي شنا کاندي سیندونه

(د ښکارندوی غوري له بوللې څخه)

# دزړه دنیا

دغــه دنــیــا چې تاسې یې وینئ ببــله او دزړه دنــیــا بېله ده. ډېر ځله داسې پېښېږي چې ظاهري بدن آرام او کـراروي، مګر د زړه پـه دنیا کې یوه پټه نا آرامي او نا کراري موجوده وي.
دا ځکـه چـې زړه یــو ډېـر نــرم پوسـت د نریـو پـردو او نــازکو رګـونـو خاوند دی.
په لږ زور او دهوا په لږو بادو هم بې واره، بې واره غورځي او لکـه د پشکال وربځې د سترګو په یو رپ کې په ژړېدو راځي. کله چې د زړه هنداره لږه غوندې ګرد جنه او خړه شـي، نـو د تندي پـه آسمان کـې ګونځې ګونځې وربځې را ښکـاره شي او د طوفـانونو شـور او زوږ جوړ شي.
زړه د غوښې یوه نازکه ټوټه ده په لږ فشار او لږ تاو لکه ګل مړاوی کېـږي . دغــه شــان پــه لــږه مینــه تــازه کېــږي او غوړېــږي. د زړه حساسیت دومره زیات دی چې پـه تش آه لکـه د پـاکې هنداري پـه شـان خړېـږي او تتیـږي او بیـا د میـنې پـه یـوه نظر بېرتـه پاکېـږي او روښانه کېږي.
د فکـر مرکـز دمـاغ او د میـنې مرکز زړه دی. پـه لومړي مرکـز کـې فلـسفه او سیاسـت او پــه دوهـم مرکـز کـې مینـه او عــشق اوســي. دلرغوني پښتو ژبې په ابیاتو کې زړه د "من" په نامه بلل شوی دی.

له دغه من څخه مينه راوتلې ده او د منل فعل هم ترې جوړ شوی دی. ولې کومه خبره چې زړه ته پرېوزي او د زړه پــه کالـه کې ځای نيسي نو د مــنــلو مـفـهوم او معنــا تــرې وزيږيږي.

په زړو اروپايي ژبو کې (منو) د بنيادم اصلي او طبيعي نوم دی ولې چې د مينې خاوند او د مينه ناک زړه څښتن يوازې انسان کېدی شي. د عربي ژبې انسان هم له (انس) څخه راوتلی دی چې د مينې او محبت معنا ورکوي.

د انګليسي ژبې (مين) هم له دغسې سلسلې سره اړه لري، په پښتو ژبه کې د (مين، مينې ، ماينې) خوږې کلمې هم د مينې له مرکز يعنې زړه او "من" سره په کلکو مزو تړل شوې دي.

دغه وجه ده چې د شاعر او عاشق کارو بارله زړه سره دی او تل خپل الهامونه د زړه له مرکز څخه اخلي.

د زړه قاموس د مينې د رڼا يو روښان مرکز دی، دغه رڼا هغه وخت خپلې پلوشې هرې خواته شيندلی شي چې پوښ يې روڼ او صفا وي. مګر کوم شی چې څومره زيات صفا او روڼ وي هغو مره نازک او نرم وي. د انسان زړه هم دغه مثال لري، هم نازک او لطيف دی او هم د مينې او رڼا مرکز دی.

د شاعر ټوله توجه د زړه د ساتنې په شاوخوا کې ګرځي را ګرځي.

مذهب او دین هم د زړونو ساتل، خوشحالول په ژوندانه کې یو ستر انساني فرض بولي. له دې ټولو خبرو نه وروسته شاعر په ډېرې همدردۍ، زړه سوي او مینې سره ویلي دي:

زړونه مه ماتوه لعل د بدخشان دی

مشکل کار دی رغول دشکسته وو

(خواجه محمد بنګښ)

ډېر شیان چې مات شي نو بیا جوړیدی شي، مګر د زړه ښیښه چې ما ته شي نو بیایې رغول ډېر ګران او سخت دي .

شاعر شپه او ورځ د زړه د ساتنې په غم کې ډوب دی.

یو زورور او بې پروا محبوب ته وایي چې د زړه وړل خو آسان دي مګر مشکل هنر یې د ساتلو هنر دی نو په کار دي چې د زړه د ساتلو هنر زده کړئ.

د زړه ساتل هم لوی هنر دی او هم ستره انساني دنده ده، که د زړونو دنیا ودانه وي، که د زړونو جهان آباد وي، که د زړونو نړۍ سمباله وي، نو هر څه به له خونده ډک او دژوندانه باغ و بڼ به سمسور او ښېرازه وي.

که د زړونو دنیا ورانه ویجاړه وي، نو ژوندون به هم د زهرو یو تریخ ګوټ وي.

ځکه موږ له خدایه د زړونو دنیا تل ودانه او آباده غواړو!!

# د پسرلي ننداره

نـندارو لـره راځـئ چې پسې ځـونـه

په اختر به ځلـمي جـونــه کا سيلونه

ته به وايې مخ يې ګل د پيغمبر شي

چې يې ډمـه په مخ ووهــي خـــالونه

چې په سيل د بــهار د ګــلـو ګـرځي

ځلـمي، ګل پـه پګړۍ ږدي په اوربل جونـه

ځيني دواړه زلــفې ډکـې کا له ګلو

څوک په غاړه د ګلـونو کا ها رونـه

زېړ او سره نمري اغوستي ګلرخانو

وايي سبر ونې ونـيـول ګـــلـونـــه

چې ګــلونـــه ټـولوي سنـــدرې وايــې

شــرمنـــده کـا د بلـــبلو آوازونــــه

درست صحرا په خوشبو یې سره خوشبو کا

په هغه ځمکه چې کښېږدي قدمونه

چې له سیله را رواني شي وکورته

ګل لمن، بلبل يې نیسي آستینونه

چې له هسې ننداړو نه ځان وباسي

شیخه ورک دې شه بې وخته خلوتونه

ښه آواز لکه لیده دروح خوراک دی

نفساني دې باندې نه کا غرضونه

تېر شو وار عبد القادره را به نه شي

که ژړا کړې که فریاد کړې که آهونه

(عبد القادر

خټک)

---

سپارښتنه

- ښوونکی دې له څو زده کوونکو د عبدالقادر خان خټک دکورنۍ او ادبي خدمتونو په هکله پوښتنه وکړي او وروسته دې ښوونکی رڼا پرې واچوي.

# بي بې نېکبخته "رح"

دا عـصمت پنـا ه او عارفـه د الله د شـیخ الـه داد لـور وه، پـه قـوم مموزی چې په اشنغر کې يې پلار او نيکه د ممن زيو مرشدان وو.

هسې وايـي کاتـب الحـروف "محمـد" چې زمـا پـلار روايت کـا چـې شيخ امام الـدين خليـل غوريا خېـل پـه خپـل کتـاب "اوليـاى افغـان" هسې کښلي دي چې: شيخ اله داد لـوى ولـي و او لـور يـې نېکبختـه چې پـه حقيقت کـې هم نېکبختـه عـارفـه ښځـه وه، علـوم دينـي يـې ولوستل او پـه رياضت او عبـادت د خداى يې عمر تېـرکـا. پـه سنه **٩٥١** هجري پـه حبالـه د نکـاح شرعي د شـيخ قـدم قـدس الله سـره راغله چې د خواجـه محمـد زاهـد خليـل متـي زي زوى و او عـارف د خداى و، په سنه **٩٥٦** يـې لـه بطنـه غـوث الزمـان قطب دوران شـيخ ميـا قاسـم افغـان پـه بـدني[1] کـې پيـدا شـو او دا شـيخ پـه معرفـت د خداى شهرت و کـا چې په هند او پښتـونخوا مشهور شو.

---

(1) بدني د پيښور ختيځى ډډې ته د يو ځاى نوم دى.

نقل کا چې شیخ امام الدین هم ددغه عرفاوو له اولاده دی او دی په کتاب د "اولیای افغان" هسې کاږي چې بي بي نیکبخته چې د خدای عارفه او نابغه د زماني وه، یو کتاب یې کښلی دی، چې نوم یې دی "ارشاد الفقراء" او په دې کتاب کې یې هسې نصیحتونه په شعر ویلي دي، چې فقرا او عبادالله ته مفید دي. دا کتاب په سنه ۹۶۹ هجري تمام شوی دی، او پلار مې نسخه لیدلې وه، په (بنو) کې هغه وخت چې دی تللی و په سفر د هغه ځای، دغه شعرونه له هغه کتابه زما د پلا رپه یاد وو:

دخدای حق ته غاړه کښېږده — نوري نوري وینا پرېږده
دنیا پاته له هر چا ده — په اخلاص کې ځنې لیرږده
ځو قوت لرې په ځان کې — سر دیار په رضا کښېږده
ځان له بده خویه ژغوره — زړه په ذکر دیار بلېږده
کل دنیا به دې دښنه شي — اوس له بیرې ځني رېږده
تولـه غـواړي حسابونه — که دې اوښه که دې مېږ ده
دنیا ترک وهه که پوه یې — د بقا پر لوري پښې ږده

(له پټې خزانې ځخه)

# پښتو

پښتو که له یوې خوا د پښتون قوم د خوږې لرغونې مورنۍ او پلارنۍ ژبې نوم دی، نو له بلې خوا پښتو د پت ،عزت ،ښېګړې ، احسان، تورې ، مړانې، وفا او حیا نوم هم دی.

پښتانه په خپل قانون کې د پښتو او پښتونولۍ صفاتو ته ډېر اهمیت ورکوي. که څوک په پښتو ژبه نه پوهېږ ي، هغه ژر تر ژره له پښتونولۍ څخه نه باسي مګر که د پښتو دغه پورته صفتونه په کې نه وي نو هغه ته پښتون نه وایي او له پښتونولۍ څخه یې باسي. ددې خبرې معنا داده ،چې د پښتو په کلمه کې زموږ د ژبې د تهذیب او کلچر ټول خویونه نغښتي دي. له دې کبله ښایي چې موږ ټول دغه ټکي ته پوره ځیر شو او د پښتو ژبې په ویلو سربېره د پښتو او پښتونولی ښه خویونه هم په ځان کې پیدا کړو. موږ ټولو ته په کار دي چې هم پښتو ووایو، هم پښتو ولیکو او هم پښتو وکړو. پښتو ویل او پښتو کول دواړه سره ترلي او لکه نوک او ورۍ

سره نښتي دي. د پښتنو د ژوندانه لوړتيا او ښه والی په دغو دوارو ټکو پورې ټينګه اړه لري. که موږ د خپلو تېرو نيکونو پښتني خويونه او پښتني شرافت ټينګ نه کړو، نو موږ هېڅکله په خپل رنګ کې سمه ترقي نه شو کولی، که پښتون بې پته وي، بې ښيګڼې وي، بې تورې وي، بې وفا وي، هغه هېڅکله په اصلي مانا پښتون کېدی نه شي. که د باز بچی، ښکار ځن او د زمري بچی زړور نه وي نو هغه ته به څوک د باز او زمري بچی ووايي؟ موږ دغه پښتني خويونه د پښتنو شاعرانو د فکرپه هينداره کې په روښانه صورت ليدلی شو، د لوړ همت په باره کې کاظم شيدا څنګه ښه ادا لري:

چېرې نه چې دار محروم په ميدان پرېږدې

که يـــو سر پـه تن لرې بلـند هـمـتـه

اشرف خان ويلي دي:

عزت ګرځي هم هغه په جهان غواړي

چې نيولې يې دامن د لوی همت ده

# خوشحال او اورنګ زیب

اورنګ زیب چې د خوشحال خان په نیت خبر شو نو لومړی خویې غوښته چې خوشحال په لاپو شاپو ووېروي، خو خوشحال خان د وېرې سړی نه و. بلکې د پښتني ننګ پر ځای کولو لپاره تر خپل سر او ژوند تېر شوی و. نو د اورنګ زیب خبرو به څه تاثیر پرده کړی وای؟

خوشحال خان ته دا خبره معلومه وه چې د پښتنو دښمن هیڅکله په دې نه راضي کېږي چې پښتانه دې د یوې ځانته ملي آزادی خاوندان شي او خپله خاوره دې د نورو له خاورې څخه جلا وساتي.

له بلې خوا د پښتونوالي قانون بیا دانه منله چې پښتانه د بل تر حکم لاندې شي او غیر له پښتون مشر څخه پردیو مشرانو ته سر ټیټ کړي او یا لاس په نامه ودرېږي او د هغوی نوکران شي.

پښتانه چې نور څه فکر کا نا پوه دي

بې له تورې خلاصی نـــشته په بل کار

خوشحال خان د پښتنو توره ستايي مګر فوري يې د ځينو پښتنو ناپوهي سترګو ته درېږي او په دې خبره خپل افسوس ښکاره کوي چې دوی خو هوښيار نه دي، ژرغو ليږي هسې نه چې دښمنان يې د خپلو ناوړو غرضونو لپاره استعمال کړي او دوی له هغې لوړې مفکورې څخه چې خوشحال خان يې عملي کول غواړي وګرځوي. نو ويلي يې دي:

تر مغلو پښتانه پـــه تـــوره ښـــه دي

که په پوهه پښتانـــه وای څـــه هوښيار

بينوا له (خوشحال ختک څه وايي) څخه.

---

سپارښتنه:

- څو زده کوونکي دې له ښوونکي وروسته د لوست په مفهوم خبرې وکړي.
- بل زده کوونکی دې ووايي چې شعر او شاعري د يوې ټولنې لپاره څه ګټه لري؟

# د افضل خان د تاریخ مرصع نثر

میرزا بله چاره بې له سولې ونه لیدله، سړي یې ترمیان کړل راویې بلل ورته یې وویل چې د ماکور هم ستاسو خپل دی ، پښتانه چې په عقل کې ساز وار دي ، ځکه ډېر نفساني دي. په لږ سود مقصود ډېر بهبود تر شا کوي ورځ په ورځ به مشرانو داولس میرزا ته آمد و رفت کاوه.

یوه ورځ اته سوه کسه راغلل همګي بې وسلې.یو محمود د محمد چغرزي زوی یوه چړوکی په خپله بډه وړي وه چې ور ننوتل د میرزا بد نیتي یې ولیدله.

هغه دې نورو ته ووې که وایئ زه به میرزا مړ کړم. هغو نورو منع کړ چې حق د نمک ساتلی بویه ،شاید له موږ سره بد و نه کا.

دا چوغلي جنکاګیګاني کړې وه چې دا هومره ډېر به یو ځای بیا نه مومي او له دوی به په نیکۍ خلاص نه شي، دا وخت غنیمت وګڼه او واړه قتل کا. واړه یې و تړل یو یو یې وواژه په هغه وخت کې یو

لوی ملک د میرزا په خدمت عرض وکړ چې دوه التماس آرزو لرم که قبول شي.

میرزا ووې چې قبول دی اول یې دا ووې چې وراره زما ملک احمد له قیده خلاص شي، پادشا ه یې خون معاف کا ، بل دې داولس اطفال بند نه شي بلکې پرېږدئ هر لور ته چې درومي.

میرزا قبول کړ. میرزا ورته ووې چې زما ګومان و چې ته به خپل سرغواړي یا به دوه کسه ځوانان غواړې. ده ورته ووې چې تر دې واړو زه ښه نه یم. که دومره عزیزان مې مري زه به خپل ځان په څه خلاصوم.

---

سپارښتنه:

- ښوونکی دې د تاریخ مرصع په هکله خبرې وکړي او څو زده کوونکي دې د لیکوال د کورنۍ د ادبي خدمتونو په هکله څه ووایي که چیرې اړتیا وه ښوونکې د ې رڼا پرې واچوي.

# د پښتو ژبې لرغونتوب

په دې خبره ټول ختیځ پوهان سره یو او متفق دي چې ټول آریایان په لومړي سر کې په یوه ژبه غږېدل او دغه ژبه په غالب احتمال (اریک) نومېده. نو میالی ژب پوهاند میکس مولر وایي "له سانسکریت څخه هم د مخه یوه زړه لرغونې ژبه موجوده وه چې (ادي) ته پکې موير[٢] ویل کېده، دا ژبه د ټولو اندو اروپایي ژبو مور وه."

استرابون یوناني مورخ په لومړۍ میلادي پیړۍ کې وایي:

پارسیانو، میدیانو، باختریانو او سغدیانو تقریباً په یوه ژبه سره خبرې کولې، تر دې وخته پورې د ژب پوهانو د څېړنې لار داوه ، چې دوی د آریایي ژبو د خیلونو، کورنیو په لغوي او ګرامري نږدېوالی باندې غږېږي او په دې ډول د هرې ژبې اهمیت او مقام څرګندوي.

آریایي ژبې په لومړي سر کې په اروپایي او آسیایي ژبو باندې وېشل کېږي

د آسیا آریایي ژبې همدغه ډول درې لوی ښاخونه لري.

لومړی ښاخ دهندي ژبو دی چې (هندیک) ژبې ورته ویلی شو. په دې ښاخ کې سانسکریت، پراکریت ، هندي، اردو، پنجابي، ګجراتي او د شمالي اولویدیز هند نورې ژبې شاملېږي.

بل ښاخ د ایراني ژبو دی چې د (پارسیک) په نامه یادېږي. په دې ښاخ کې زړه پارسي، ساساني، پهلوي اوسنۍ پارسي او د ایران

---

[٢] په شرقي آریایي ژبو کې یوازې په پښتو کې دغه کلمه موجوده ده او د (مور) په شکل ویل کېږي.

جنوبي لهجې يې يو ګروپ دی او مادي اشکاني، پهلوي، ګیلکی، کردي او د ایران شمالي لهجې بل ګروپ دی.
دریم ښاخ چې د تاریخ او موقعیت له حیثه ډیر اهمیت لري باختري ژبې دي. په دې ښاخ کې پښتو، بلوچي، او رمړي، پراچي او د هندوکش د شاوخوا نورې ژبې شاملېږي خو پښتوژبه په کې د لویې مور ځای لري. په دغو درې واړو ښاخونو کې او ستا، سانسکریت او پښتو د پوره نوم او شهرت خاوندانې دي، درې واړه د خوږو خویندو په نامه یادېږي.
مګر اوس په کې یوازې پښتو ژوندی ده او دغه نورې دواړه خویندې یې د مرګ په خوب ویدې دي. د پښتو او اوستا ډیر نږدیوالي له کبله ځینې ختیځ پوهان په دې سودا کې لوېدلي دي، چې پښتو ژبه ګوندې له زند ژبې نژدې لهجې څخه راوتلې ده. دغه نظر یه فرانسوي ډار مستېتر په شکمنه لهجه ښکاره کړې ده، مګر همدغه پوهاند بل ځای وایي چې پښتو ژبه نه د پارسي یوه لهجه ده او نه د پهلوي.
په پښتو کې داسې لغات شته چې نه په پارسي کې شته او نه په پهلوي کې . یوازې په زند کې یې ریښې پیدا کېږي لکه د پښتو (پل) او زند (پده) چې سره نږدې او یوشان ښکاري. د ډار مستېتر په نظریه پښتو له پارسي او پهلوي څخه ډېره لرغونې ده او له زند سره په یوه کتار کې درېدی شي.
د ایران د سیمې په زړو ژبو کې یوه ژبه د مادي ژبې په نامه هم یاده شوې ده. ډار مستېتر ویلي چې اوستا لومړی په مادي ژبه لیکل شوې وه[۳] او دغه مادي ژبه له زړې پارسو سره ډېره نژدې وه.

---

[۳] ایراني مطالعات

د ایران د زاړه تایخ په شهادت د مادي ژبې ویونکي قومونه یعنې مادیان له باختر څخه د ایران پر خواوو کو چېدلي دي. نومیالي ختیځ پوه ګریرسون انګریز په دې باره کې بل شان نظریه لري. نوموړی د آریایي ژبو یوې کورنۍ او یوه خپلواک ښاخ ته میدي ژبې وایي. دی لیکي چې میدي ژبې د ایران په ختیځو خواوو کې ویل کېدې.

د ګریرسون د اصطلاح په باره کې موږ یوه بله څرګندونه هم غواړو، مدهیه په سانسکریت کې د ملاپه مانا ده. په پکتیا کې اوس هم دغه کلمه د (ملیه) په شکل موجوده ده.

ددې کلمې دوهمه لازمي مانا منځنۍ کېږي. ځکه چې ملا هم دوجود منځنۍ برخه ده. په انګریزي کې د (مډ، مډل، مډسم) کلمې هم له دغه اصل سره ارتباط لري او د متوسط مانا ورکوي. په دې حساب مونږ میدي ژبې منځنۍ او متوسطې ژبې بولو او دا هغه ژبې دي چې د ایراني او هندي یعني (پارسیک او هندیک) ژبو تر منځ سیمه کې ویل کېږي، افغانستان د منځني ایشیا زړه او منځ دی. نو میدي ژبې د آمو او اندوس تر منځ ویل کېږي، له دغې نظریې څخه ددې ژبو خپلواکي او ځانله والی ښه څرګندېږي. مګر دا بیلتون او بیلوالی هم په منځنۍ زماني پوري اړه لري. په ډېر لرغوني تاریخ کې بیا د دغو ژبو اصل او مبدا سره یوه ده. لکه چې د سترابون له نظریې څخه دغه خبره څرګنده شوه.

د ناروې د نومیالي پوهاند مارګنسترن په نظریه افغانستان د آریایي ژبو د مطالعې له حیثه ډېر اهمیت لري. دی وایي چې افغانستان د آسیایي او اروپایي ژبو مرکز دی او پښتو په آریایي ژبو کې یوه مهمه ژبه ده.

# انسان دوستي

ټول انسانان د پاک خدای ﷻ مخلوقات دي، دوی ټول یو شان د خدای ﷻ بنده ګان دي او ټول سره یو پر بل مساوي حقوق لري. په ځانګړي ډول هر انسان د خپل عزت خاوند دی، چې نور خلک د هغوی عزت تر پښو لاندې نه کړي او درناوي يې وکړي.

همدا وجه ده چې په اسلامي ارشاداتو کې داسې راغلي دي: په انسانانو کې تور په سپين او سپين په تور هيڅ لوړوالی او تفوق نه لري. ښه او غوره انسان هغه څوک دی چې پرهېزګار وي او په پای کې د خپلې ټولنې، د خپلو هېواد والو او هېواد په ګټه هڅه او هاند وکړي چې د خپلې ټولنې اتل شي.

څرنګه چې ټول انسانان په يوه ټولنيز چاپېريال کې هستوګنه کوي او په کلو، بانډو او ښارونو کې ګډ ژوند پر مخ بيايي، نو دوی د ژوندانه په ټولو چاروکې بايد يو له بله سره مرستندوی واوسي او يو د بل په حال او احوال خبر شي لکه چې وايي له يوه لاس څخه ټک نه خيژي. په دې معنا چې په يوازې توب سره کارونه او کړه وړه پرمختګ نه کوي او نه سر ته رسېږي.

هر څوک په هر کار کې يو بل ته اړتيا لري او د ژوند په ستونزو اوکړاوونو کې يو له بل سره خوا خوږي ښيي مثلاً که يو څوک چې

لاس يې خالي وي او يا ناروغي ولري يا اقتصادي مشکلات ورته پیدا شي، نو ضرور ده چې په داسې حالاتو او پېښو کې لاس ورکړو او د هغه نیمګړتیا وې ورپوره کړو. په همدې ډول موږ هم له ورته پېښو سره مخامخ کېږو چې موږ هم د دوستانو او همسایه ګانو مرستې ته اړتیا پیدا کوو. دا ټولې مرستې هر سړی د خپلې وسې په اندازه له یو بل چا سره کوي. خو یوازې دا شرط نه دی چې سړی د ناروغیو او اقتصادي ستونزو په هکله مرسته وکړي بلکې مرسته حد اوحدود نه لري، کېدلی شي یو څوک په فکري، روحي، د ښوونې او روزنې په هکله، یو چا ته سمې لارې وښیي او ستونزې یې له منځه یوسي. همدا رنګه د ژوندانه نورې ټولې اړتیا وې او نمیګړتیاوې ور پوره کړو.

په دې ډول په ګاونډیتوب کې د خپلې وسې په اندازه یو د بل له احوال څخه باید ځان خبرکړو. په ټولنیز ژوند کې د اقتصادي ستونزو حلول او سمې لارښوونې ډېرې د ار زښت وړ دي.

څرنګه چې موږ انسانان یو او د انسانیت دنده داده چې د نړۍ له ټولو انسانو سره مینه او نژدې اړیکې ولرو او له دوی سره پخپل ټولنیزژوند کې اقتصادي، سیاسي او فرهنګي روابط هم ټینګ وساتو، زموږ انساني او اسلامي فرض دی چې ټول خپلو انساني اړیکو ته پراختیا ورکړو.

زموږ په دې جنګ ځپلي هېواد کې چې هرڅه را څخه اخیستل شوي دي، موږ په ډول ډول روحي، عصبي ناروغیو او تکلیفونو باندې اخته شوي یو، نو په دې برخه کې زیات وګړي سمې لارښوونې ته اړتیا لري او هغوی ته که نور څه نشو ورکولی، یوه سمه لارښوونه او د زړه ډاډ خو ورکولی شو.

له دوی سره باید خوا خوږي او غم شریکي وکړو. موږ افغانان یو او په اوسنیو شرایطو کې موږ ته ښایي چې د انسان دوستۍ او د افغان دوستۍ روحیه د هر افغان په وینه او رګونو کې پیاوړې کړو چې دا د ځان ځانۍ روحیه بېخي له منځه یو سو. هر څوک حق لري چې د خپلې سوکالۍ لپاره کار وکړي.

په خپله سوکالۍ کې د نورو سوکالي هم له یاده ونه باسو چې ټول هېواد وال مو د سوکاله او آرام ژوند خاوندان شي او داسې عمل وکړو چې د هغوی په زخمونو باندې پټۍ کېږدو، نه دا چې په زخمونو یې لږ څه نوره مالګه ور ودوړوو.

# د مشرانو همت

ډیر ملوکان په ډېر دولت کې هسې په ځان سترې ناست وي چې د ځان خلاصی په دعا غواړي اما نه بویه چې کم همتي کېږي. زمری له خپل کاره نه جاروزي، څه شو که زنځیرونه يې په غاړه کې پراته وي، هم دغه زنځیرونه د دېو[۴] لویي ده ولې په ګیدړوکې څوک زنځیرونه نه اچوي چې لویې چارې غواړي، د لویو غمونو پروا دې نه کا.

هر څوک چې يې پیدا کړي دي د یوه کار لپاره دي. د سړي په لاس کېهیڅ نشته .یو چې په ډېرو کې و نمنځي خاص يې کا، د علم د مصلحت لپاره وي چې په هغه کار د پروردګار له لوریه[۵] مامور دی، خو پر دی په اختیار په همت بویه ، چې په همت کې سستی بې همتي دې نه کا. که هر څو کار، ګران ور پېښ شي، پرې دې همت وکا. که ډېرې حادثې واقعې پرې راشي . زړه دې قوي لري وار دي خطانه کا.

---

(٤) دیو، دوی.

(٥) لوریه، لوری.

دده خو همت بویه مشکل به خدایﷻ آسانوي. که واړه ملک ومال یې په یوه ورځ د سیلاب په مخ لاړ شي زړه دې لر بر نه کا. په زړه دې داوایي چا هغه چې راکړي وو، هغه یې را څخه را نیوه که یې راکوي بیا به یې کا، دا هومره ملوکان څه شول، د دیو ملک خزانې څه شوې خو وار و، په هر چا تېر شو، په ما به هم تېرېده، د چا تملق، چاپلوسي دې نه کا، چې کم همت یاد یږي.

په (پت او همت) کې مرګ ښه دی، نه په بې همتي، کم ننګي کې ژوندون که تمام عالم هم دده په کمی شي پروادې د هیچا نه کا، خپل هوډ همت دې له لاس نه اچوي.

د همت له تالاش دې پخپل کار کې هیچرې سستي، کاهلي ونه کا. د سلیمان غوندې سړي هم ګوته له لاسه لاړه وه، بیا ورغله، که تنها پاته وي اختیار دې تر جهان تېروي څو یې سروي هومره دې یې شورو شر وي.

| | |
|---|---|
| سر چې وخنډي ځوانان | څه زمري څه یې هاتیان |
| سر ګیا ورته ښکاریږي | چې همت لري هوډیان |
| سر دې ځي همت دې نه ځي | تل څوک نه وي په جهان |
| ځان ساته نشي له مرګه | که هر څو ساتي خپل ځان |

(له دستار نامې څخه)

# فکر او عمل

څوک فکر کوي مګر کار يې دلاسه نه کېږي.
ځينې په کار کولو کې تکړه وي مګر په فکر کولو کې بې خونده وي.
څوک چورت ډېر وهي، مګر د عمل په ډګر کې هيڅ نه وي.
ځينې د کار او عمل ميړني وي مګر په سوچ او تدبير کې بې کاره وي.
چاته فکر او جاج وهل ښه ښکاري.
د چا په نظر کې د عمل او کار کولو صفت لويه ښېګڼه کېږي.
څوک خپل قيمتي وخت په سوچ او جاج تېروي.
ځينې په پټه خوله د غښتلو لېچو له کار کولو څخه خوند اخلي.
چاته سوچ او فکر کول خوند ورکوي او څوک د کار کولو په زور د ژوندانه په ژور سيند کې لامبو وهي.
څوک د هوا باد پيمانه کوي او ځينې د حقيقت په تله کې د ژوند مرغلرې تلي.
څوک په خبرو اترو خپل بازار ګرمول غواړي او څوک د کار په مرغلرو د نړۍ بازار ښايسته کوي.
څوک د فکر ملګري او ځينې د عمل مينان دي.
لاکن د انسان کامل والی په فکر او عمل دواړو پورې تړلی دی.

د ژوندانه تله هله برابره او سمه درېږي چې دواړه چابرۍ یې په تول کې یو رنګ وي یعنې په یوه اندازه په یوه چابرۍ کې فکر او په بله کې عمل وي. که چا په ژوندانه کې دغه مقیاس په لاس ونیو یعنې هم یې فکر وکړ او هم یې د عمل جامه ور واغوسته نو کامیابي به د هغه پښې ښکلوي.

د کامیابۍ راز په فکر کولو او عمل کولو دواړو کې پټ پروت دی. ښایي چې هر څوک په تېره مشران د فکر کولو او عمل تله په لاس ونیسي او د ژوندانه واړه او غټ کارونه پرې وتلي.

د نړۍ لوی نومیالي کسان او د ملتونو او قومونو مشران د فکر او عمل په ګاڼه یو شان ښایسته وو. دوی هم فکر کاوه او هم یې د عمل جامه په غاړه کې وه. فکر او عمل دوه غبر ګوني ورونه دي. دواړه په شریکه سره د ژوندانه دروند پیټی پورته کولی شي.

فکر او عمل اساسي ستنې دي، فکر او عمل دالوتلو قوي وزرونه دي. فکر او عمل د نیک مرغۍ پاخه تاداوونه دي.

فکر او عمل د نجات قوي متهونه دي، بې فکره عمل او کار بې نتیجې ستړیا او بې مطلبه لامبو ده او بې عمله فکر د خوب دنیا جوړول او هسې دماغ ستړی کول دي.

که څوک غواړي چې د ژوندانه له خوږو څخه خوند واخلي او د نیک مرغۍ د ناوې سره غاړه غړی شي ښایي چې هم فکر وکړي او هم خپل فکر ته د عمل جامه ور واغوندي:

دغه ده په نړۍ کې د کامیابۍ غوره اوسود منه لار!

# ژېړ ګلونه

ځوک چې د پښتو ژبې په ادب کې د لږې ډېرې مطالعې او څه ذوق څښتن وي، هغه د ژېړو ګلو له کلمې څخه پوره خوند او لذت اخیستلی شي.

کوم وخت چې ځوک دغه کلمه په خوله راوړي یا یې واوري نو د باغ او بڼ ټول ښایست او لطافت یې سترګوته مخکې ودرېږي، رښتیا ده چې د ژېړو ګلو په کلمه کې ډېر زیات خوږوالی او تاثیر پروت دی. د پښتو ټولو شاعرانو د پسرلي ښکلی او ښایسته موسم په ژېړو ګلو ستایلی دی او تل یې د زړه له پردو څخه لکه درد من بلبل د ژېړو ګلو غږ راوتلی دی.

اوس موږ غواړو چې دپښتوژبې په ادب کې د ژېړ ګلو د استعمال څو مثالونه راوړو او بیا یې د تاثیر او پدل په باره کې وغږېږو.

خوشحال خټک ویلي دي:

چې د اهسې ښایسته یې ژېړه ګله　　　ځکه تا په ځان شیدا کړله بلبله

احمد شا بابا ویلي دي:

پسرلی شو ژېړ ګلونه　　　پرې بلبل کا چغارونه
زړه زما کا چغارونه　　　د پسرلي په ژېړ ګلونه

محمد یونس ویلي دي:

آه کوي له دله په فریاد له ژېړه ګله　　　واوره له بلبله ښه ګفتن تازه تازه

مطیع الله ویلي دي:

آشنا یي غم دی د ژېـــړو ګـــــلو　　　سهـــار بلـــبلو هسې ناري کړې

عبد العظیم ویلي دي:

بې اختیاره بلبلان په ځـــان مـــین کـــا
چې ځان جوړ کاژیړ ګلونه د ګلنار مست
بوراګان به د بـــهـــار په ژیړ ګلـــونـــو
یو تر بله ســره ښـــوري مـوړ بــه نه یو

په اولسي ادب یعنې لنډیو کې هم د ژیړو ګلوڅپې غور ځنګونه وهي لکه دا مثالونه:

پـــه لـویــو غرو د خـدای نـظـر دی
په سر یې واورې په لمن ژیړي ګلـونـه
ماد کـــو چـــي لـــه عمـره ځـــار کـړې
په ژیړو ګلو کې به مراندي ټك وهینه
که ژاړم ژاړم ســود مـــې نـــشـــــي
په ژیـــړو ګـلــو مې تـالان ولـګېدنه
که ګـــل پـــیـداوی خـزان نــــه وای
د دنـــیا مـخ بـه امـانـي وو ژیړ ګلونه
تا د ســـفـــر مـوزې پـه پـښو کړې
د ژیـړو ګلـو باغ پـه چـا سپارې مـینه

په دې ډول نور هم زیات ښه ادبي مثالونه موجود دي. مګر اوس پوښتنه دا پـه کـار ده چې پـه پښتـو ادب کې د ژیـړو ګلـو د دومـره ګرانوالي او خوږوالي وجـه او سبب څه دی؟

که څوک خیال وکړي نو دغه سره او سپین ګلونه یو هم په رنګ، ښایست او بوی کې له کوم ژیړ ګل څخه لاندې نه دی بلکې یو نیم سور ګل تر ژیړ ګل زیات او پورته هم دی. لکه ګلاب او انار ګل.

۱ـ که څه هم په ځینو شیانو کې به سور رنګ له ژیړ رنګ څخه زیات ښایست لري مګر په عام ډول په ژیړ رنګ کې یو داسې اثر او اغېزه پرته ده چې هغه په بل رنګ کې نه لیدل کېږي. په تېره په ګلانو او څارویو کې چې له ورایه ورته سړی ګوري د ژیړ رنګ منظره ډېره ښکلې او خوند ناکه ده.

په قرآن شریف کې هم د ژیړ رنګې غوا صفت راغلی دی په داسې ډول د کتونکي سترګې پرې خوږېږي او خوشالېږي. نو معلومه شوه چې په تک ژیړ رنګ کې د خوښېدو یو طبیعي اثر پروت دی. هم د ژیړ رنګ تاثر څه ناڅه څرګند دی.

۲- د ژیړ رنګ په باره کې د اوسنۍ زمانې د پوهانو نظریه هم د پښتو ادب سره ملګرې ده، دوی وایي چې زیړ رنګ د درس ویلو او دماغي کارونو د مشغولا لپاره ښه دی، ولې چې دغه رنګ ددماغي قوتونو ویښوونکی او خو ځوونکی دی. دا نظریه د جرمني د فرانکفورت په (ترایلو ستریر ته) نومي مجله کې خپره شوې ده. اوس په نقل،عقل او علم دري واړو کې د زیړ رنګ ښه والی ثابت او د پښتو ادب غوره والی څرګند شو.

# د خوشحال خان پېژندنه

خوشحال خان د شهباز خان زوی، د یحیی خان لمسی او د ملک اکوړي کړوسی دی. یو زرو دوه ویشت کاله له هجرته تېر وو چې د ختهکو په بنړ کې د شهباز خان کره یو خوشحال توتي پیدا شو. وړوکی و، لوی شو، په خبرو او چغارو راغی د ختهکو په باغونو وګرځېد. د توتیانو یو لوی سېل ور پسې شو. د وطن ټول بڼونه او دروه غرونه یې تر وزرو لاندې کړل. په هر بڼ او هرګلزار کې یې خواږه چغار خوندونه پرېښودل، د باغ مړاوې او مخ پټې غوټۍ ورته وغوړېدې مسکۍ شوې. د روح خوشحالي زیاته شوه څه وشو... د خوشحال د شاعرۍ وړمه د غرندو او مړاوو بوټو د تازه ګۍ لپاره په چلېدو راغله، د طبیعت مارغه یې وزرونه خپاره کړل، والوت، د تېرا په لوړو غرونو وګرځېد. په جګو نښترو کښیناست او چتو څو کوته وخوت ، په دې وخت کې ورته د هغه ځای بازانو او کوترو د روښان پیغام چې د عبد القادر[۶] په لاس تردغه وخته رارسېدلی و، ورساوه، میدان ته راووت، د آزادی او مېړانې جنډې یې ورپولې، په کلک او ټینګ عزم د ملت او قوم د لویی او یووالي لپاره له سره تېر شو، د پښتون د آزاد ژوند او خپلواکۍ لپاره یې له وینو سره لوبې وکړې، خپل همت یې د زمري په خوله کې له لاسه ور نه کړ. د وطن دمینې په نارو یې ویده زړونه را ویښ

---

[۶] عبدلقادر د احداد زوی، د شیخ عمر لمسی ، دپیرو روښان کړوسی دی چې په ۱۰۴۴ مړ شوی دی.

کړل... د عزت ساتندوی، د پښتونولۍ ګټندوی او د پښتو ژبې نومیالی ادیب او ننګیالی شاعر و پېژندل شو. د اجتماع او اخلاقو په میدان کې هم وزغاست. له خلکو سره د دوی په ژبه لګیا شو، د پښتونولۍ درانه خویونه او سپېڅلي اخلاق یې بیان کړل. پښتانه یې د قوم او ملت خدمت ته راوبلل. د تصوف او سلوک په دنیا کې هم والوت د جهان او اسمان په ننداره سر شو.

راشه وغـړوه سـترګـې          د جهـان نـنداره ګـوره

چې ښایست لري په ستورو          د آسـمان نـنداره ګـوره

خوشحال هېڅ ډول مضمون پرې نه ښود، حقیقت یې له مجاز سره ونښلاوه. عشقي، اخلاقي، اجتماعي، وطني، ملي، فلسفي، تصوفي، رزمي، حماسي فکاهي، او نور هر راز مطالب یې د شعر په جامه کې ونغښتل. د هرچا د ذوق لپاره یې د خپل شعر باغ و بڼ له رنګا رنګ ګلونوڅخه ډک کړ. ساده او آسان شعر یې ووایه. د افکار و مرغلرې یې د شعر په ښایسته مزي کې وپېلې د زړه د ټوټو ترجماني یې وکړه. د خبرو ملک یې فتح کړ او د پښتو لو ی استاد شو. په فصاحت کې حسان، په رزم فردوسي، پـه اخلاقـو کې سعدي په فلسفه کې خیام، په عشق او تصوف کې حافـظ او د فطرت د ښکلا انځور ګر وبلل شو.

دده په ښه شعر د پښتو ژبه په آب و تاب شوه، دبلبلود نارو لپاره یې دوینا او خبرو باغ جوړ کړ، لکه چې ویلي یې دي:

ماخوشحال چې په پښتو شعر بیان کړ

د پښتو ژبه به اوس په آب و تاب شي

همېــشه بـه پــرې نــارې وې د بلــبلو

دا چې ساز کړ نن خوشحال په ویل باغ

لنډه دا چې خوشحال خټک د پښتو ادب یو لوی ادیب، غښتلی شاعر د ملیت پتنګ، د پښتنولۍ لیوال د ننګ او غیرت ټوټه، د تورې او مېړانې بیرغ او د عزم و همت لوی غر وپېژندل شو. دی پرته له شعر نه په نثر کې هم د لوی لاس خاوند او د پښتو نثر د نوې دورې لارښوونکی وګڼل شو.

د یو قوي نثر لیکونکی، پوه مورخ، لوی عالم، مشهور مؤلف، په صفت وستایل شو. دغه وجه ده چې نن مونږ دده د علم او پوهې، تورې او ننګ مقام ته د احترام سرونه ټیټوو او دده د سپېڅلو آرزوګانو د پوره کېدو هیله کوو!!!

خوشحال د (۷۸) کالو په عمر د ۱۱۰۰هـ کال د دوهمې خور په ۲۸ نیټه وفات شو او د هوډي غره تر څنګ خاورو ته وسپارل شو.

# سید جمال الدین افغان

بې حسابه څاڅکي توی په بحـرو برشـــي
لــه لـکونو او کروړونو یو ګوهر شـــي
رنګ په رنګ ګلان پیدا شي غـــرو رغـو کـې
په کې یو نیم دلیــلا پیکي تـه ورشـــــي
مرغلرې ډېرې ووزي لــه دریــا بـــه
ځینې ځینې ښکلو پېغلو ته زېــور شـــي
په عمرو اورونه بل په یوه ځای وي
څو پیدا په سرو لــمبو کې سمندر شـي
عــالمونه پیدا کېږي بې حسابــه
په دنیا کې د څـــو تنو تاج په سر شـــي
میندې راوړي ډېر زامن ډېر اولادونه
یو یادوه یې افلاطون او سکــندر شـــي
جوداني قدر یو لعل په کې پیداشي
نو رهمــه واړه د تـورو کـاڼو غــرشـــي
په هر سره رنـګ سرخ رویي نـه شي حاصله
هسې نـه چې په رنګ سور شي نو سره زرشـــي
یوه کورکې پیداکېږي او لوییږي
یو یې ګــوره ابـراهیم بـل یــې آذرشـــي
فرعونان د خدایی دعوا آغاز کړي
یوماشوم د خــدای ﷻ له لوري مقرر شـــي

چې طلسم کاندي مات د ســـــر کشانو
ړ پــر بتــان بــت پــرستان زېـــرو زبــر شـــي
کاهنان[۷] يې د راتــګ خوبونه ويـــــني
ظـالـمـانـو تــه پـيدا د ســر خطر شـــي
لا پيدا په جهان نه وي نــــه يې نــوم وي
زلــزلــه ګـډه پـه کـور دستمـــګـر شـــي
لو ی جهاد له معصيت سره شروع کــړي
پـه دنيا کې غرق فرعون هم يې لښــــکر شـــي
څوک چې حق او حقيقـــت پـــالي دنيـا کې
يوه وخت کې وي مو سی بل وخـت عمر شـــي
د اسلام د طوفاني بېړۍ دپـــاره
لــکه نوح لوی کشتيبان قـــوي لنـګر شـــي
د خلقت له کار خانې نه کله کله
پـــه جهان پيدا يـو بـل شـانې بـــشر شـــي
چې رڼا يې په مـــلــکونو کې خپـــــرېږي
تـول عـالـــم لــره څرګـنده لـکه لمـر شـي
د کـونـړ د لـوړو غـرونو پـه لمن کې
نـابغـه فــرزنـد پـيدا د سيد صــفــدر شي
پښتنه مور هسې زوی واخلي په غېږ کې
چـې د دهـــــر او جـهـان نـامـي سپر شي

---

(۷) کاهنان، غيب ويونکي او فال ګران.

د ېر پوهان ورته سرټيټ په شاګردۍ کړي
د ېر شاهان يې په تعظيم مخي ته ور شي
همېشه يې قدر کېږي په عالم کې
څوک چې لوی په علم وفضل او هنر شي
هسې نوم هسې نښان يې شي په برخه
چې لوی فخر د ملت او خپل ټبر شي
په شاهي لويو قصرو کې نه ځايېږي
لوی کور غواړي چې اوار د ده بستر شي
ټول جهان ور باندې تنګ شي له ناکامه
آو اره لکه نسيم په بحر و بر شي
ترکيه، مصرو لندن، فارس وپاريس کې
ارام نه مومي هر لور ته يې سفر شي
سر ګردان وي په جهان هغه مړونه
چې د ټول عالم غمونه يې په سر شي
سر يې مه بوله بل نوم ور لره بويه
چې پيدا په کې لوی فکر لکه غر شي
نه دی مړ لوی پهلوان ددې جهان دی
هغه څوک چې ځمکې تل نه را بهر شي
قيامت نه وي سر را پورته کړي له خاورو
را روان په لور د خپل اصلي مقر[۸] شي

[۸] مقر= د قرار او اوسيدو ځای.

په رښتیا چې حق په خپل ځای قرار مومي
د پښتــون سید آرام پــه خپل بستر شـــي
دې تابــوت کـــې د پښتون ډېر خاطرات دي
چـې یـې ګـورم بـل عالم مـــې په نظر شي
څوک چې ور یې شي مزار ته که بیـــناوي
ورتـه بیـرتــه بـه د پـــوهې لــوی دفـتر شـي
ددې خـاورو د ور نمـــاته نـظر بـویــه
کــه دې کلــه پـه دې لار بـانـدې ګـذر شي
ښکاره کېږي کارنـامې ډیرې نامدارې
ستـرګــورو تـه آیـینـه د سکـندر شـي
لوی عظمت، شان و شوکت راځي خاطرته
لـوړ فـکرونــه، لـوړ خــیالـونه مـصورشي
په یوه موټي سپېر و خـــاورو کـې ګـوره
د تـمـام جـهـان بهـــار پټ او مـضـمر شي
هسې شـانې هـنـګامې شي په کې غلې
چـې غـــوغـا ور ځـنې جـوړه پـه مـحشر شي
لوی داستان، لویه قصه لري په زړه کې
کـــه ددې خـــاورې لــه حاله څوک خبر شي
پښتانه به ورنه اخـلـي الــهامــونه
تیـر دورونه بـــه یې مـخ کې لــرو بـر شـي
دې زیارت کې وینم بـل راز تـاثیرونه
دلــتـه مــه کـــوئ واړه سـوالــونـه
(د الفت لـه غوره اشـعارو څـخـه)

# دافغانانو هېواد

پکتیا: نږدې دوه نیم زره کاله پخوا د یونان مشهور مورخ هېرودت پښتانه د (پکتي، پکتویس) په نامه او د دوی ټاټوبی او مسکن یې د پکتیکا په نا مه یاد کړی دی. د پکتیکا کلمه غالبا له (پکهت=پښت) او (کا=خا=خوا) څخه جوړه شوې ده. ښایي چې اصلاً یې (پښتیخا=پښتخوا) و، خو یونانیانو له خپلې لهجې سره سم پکتیکا لیکلې ده. پکتیکا په قدیم کې زموږ د وطن یعنې د آریانا د یوه تاریخي ولایت نوم دی. هغه چې د (پښت) یوه برخه له (بخدي بخدیا) څخه د سپین غره شاو خوا لمنوته راغله نو دغه ځل نوی ټاټوبی یې (پښتیخا) او یا د (بخدیا) په صورت (پښتیا) وباله. چې دغه نوم د یونانیانو له خوا (پکتیکا او پکتیا) لیکل شوی دی. د پکتیکا د ولایت برېدونه دزیاتومورخینو له خوا د سپین غره او کسې غره شاوخوا ځمکې ښودل شوي دي او ځینو تر اندوس (اباسین) پورې دغه بریدونه رسولي دي.

ډاکټر بلیو ختیځ پوه له پکتیکا څخه د (سوات ، اباسین، پښین او سیند) تر منځ علاقه مراد کړې ده چې کټ مټ د (روه) په نامه هم یادېدله. د هیروډت د بیان له مخې د پکتیکا په ولایت کې څلور قومونه اوسېدل (ګنداري اپاریتي= اپریدي، ستاګیدي او دادیکی) دا سیمه د بطلیموس له خوا د پکتین په نامه یاده شوې ده او وایي چې د پارو پامیزاد یعنې غور په سویل کې پرته ده. ښایي چې دا کلمه په اصل کې (پکت تون) یعنې د پکتیا نو ځای

وي. دا هم کېدی شي چې پکتین د پکتیا نه مخفف وي چې له (پکت) او (یانه) څخه جوړ شوی دی (یانه=یاڼه) په پښتو کې د ظرف توری دی. دا ولایت اوس هم د پکتیا په ولایت یادېږي. ژبه یې پښتو او اوسېدونکي یې ټول پښتانه دي

ګندهارا: د پښتو یو بل لوی او ارت ولایت ګندهارا دی. ددې ولایت لویدیځ خوا له ارا کوزی او ختیځ خوا یې له اندوس (اباسین) سره لګېدلي وه. د کابل شاو خوا سیمې ننګر هار، پېښور دا ټو ل په کې شامل وو. دا ولایت په بودايي وخت کې ډېر مشهور و، نګاراهارا یا هډه ددې ولایت یو ښکلی صنعتي او مذهبي مرکز و. هیروډت د ګندهارا ولایت د (ګنداري) ټبر ټاټوبی بولي او وایي چې دوی د پکتیانو یوه څانګه ده. د پښتنو ددې لرغوني او تاریخي ولایت اوسېدونکي ټول پښتانه دي او په پښتو ژبه غږېږي.

روه: روه هم د هېواد د یوې برخې پخوانی نوم دی.

دا نوم په اوستا کې اروا- اوره راغلی دی چې داوستاله (۱۶) ولایتو څخه یو ولایت و. له دې اوستايي نوم څخه ګایګر الماني د پکتیا (ارګون) مراد کړی دی. سویلی غرنۍ سیمه یې وروسته د (روه) په نامه یاده شوې ده او د( روه، اروه) ترمنځ لفظي شباهت هم زیاد دی. له دې کبله غالب ګومان دادی چې داوستاله (اروا=اروه ) څخه به هم دغه د (روه) سیمه مراد وه. دا نوم که څه هم په لومړي سر کې د یوې علاقې نوم و خو وروسته څه قدر عام شوی دی او د پښتنو زیاتو غرنیو سیمو ته ویل کېږي.

هـنـدي او افغاني کلاسيکي مورخين د پښتنو وطن (روه) بولي.
چې په دې وجه په هند کې پښتون ته رو هيلی وايي. دا نوم په پښتو ادب کې د خوشحال ختټک (۱۰۵۰ هـ) له وخت نه را په دې خوا ليدل کېږي. د خوشحال خان زوی اشرف خان هجري چې په هند کې د مغلوله خوا (۱۴) کاله بندي و، ويلي دي:

قاصدان له روهه نه راځي مدت شو
سلام باد را رسوي منت يې تم دی

کاظم خان شيدا هم د پښتنو وطن (روه) په نامه ياد کړی دی او دا نوم يې ډېر را وړی. لکه چې ويلي يې دي:

شيدا واستوه رنګين اشعار له هنده
ستاله رای سره اشنا د روه ياران دي
په هندي ادايې وکړې په ما چـــارې
زه شيدا په زړه ساده د روه افغان يم

بل ځای وايي:

زر کې چې ګرځي د روه په غرونو
ښايسته روغې په دغـه شـــان وي

د خوشحال ختټک په صفت کې وايي:

خان استاد د تمام روه دی دی دانــا په هر ګروه دی

له دې شعرونو څخه معلومه شوه چې (روه) د (ر) په پيښ د پښتنو د ځينو غرنيو سيمو پخوانی نوم دی چې کله کله د پښتنو ټول هېواد ته هم ويل کېږي مګر کوم خاص ولايت يا سېمه ترې نه مراد ېږي.

# د پټې خزانې مؤلف

د پټې خزانې مؤلف محمد هوتک د داوود خان زوی، د قادر خان لمسي خپل حال د پټې خزانې په خاتمه کې داسې کښلی دی:

"زما راتګ دې نابودې دنیا یعنې تولد مې واقع شوی و په (۳) درجب المرجب سنه ۱۰۸۴ هجري په کوکران کې.

او سن ته د تمیز ورسیدم نومې پلار درس راته شروع کا او تر اتلسم کاله د عمر مې ولوستل، احکام د دین او فقه او اصول او تفسیر او د فصاحت علوم لکه قافیه او عروض او بیان او معاني او نور...

چې زما پلار مرحوم وفات شو او زه په تقاضا د پادشا ظل الله د امت سلطنته شا ه حسین راغلم د قندهار ښار ته تراوسه په نظر کیمیا اثر د پادشاه اسلام ښادیم او هر کله په احسان او مرحمت ددې خاندان عالي شان سر بلند یم، عمر مې تیرېږي په لوستلو او کښلو د کتابونو له نعمتو د جهان بله بهره نه لري او زړه مې هم خوښي نه کا، بې له دې اشغالو په دې اوقاتو د عمر چې مې تېر کړ یو څه کتابونه مې وکښل، چې یو له دغو څخه دغه خزانه ده او نور دادي:

یو کتاب مې کښلی دی په بیان د علوم و فصاحت چې خلاصة الفصاحت باله سي او په دغه کتاب مې ټول علوم د فصاحت په پښتو د خپلو پښتنو طالبانو له پاره خلاصه کړل.

بل کتاب مې کښلی دی، په بیان د طبابت او علاج چې خلاصه الطب یې نوم دی، په سنه ۱۱۳۹ هـ چې مې دغه کتاب د پادشاه عالم پناه مدظله مخ ته پیش کا، سل طلاوې یې ماته صله کا او هر کله داسې مراحم دپادشاه ددې فقیر غریب په حق ډیر دي او ارکان د دولت ابدمدت هم ددې فقیر د مرحمت نظر کا، خاص بیا بهادر خان عالي مکان چې نن په قندهار د غربا و پر سر ظل د رحمت دی خالق دې عمر ډیر کا.

ماله یو دیوان د اشعارو هم سته چې په دې وخت کې مردف او مدون شوی دی او غزلونه او قصاید او رباعي لري. کله چې طبع قاصره میل د شعر او وینا کا، شعرونه کاږم او موزونان د روز ګار یې خوښوي.

(له پټې خزانې څخه)

# د حمید د شاعرۍ رنګین اړخونه

حمید بابا د پښتو ژبې یو نازک خیال شاعر دی. د ده د شاعرۍ باغ او بڼ له رنګا رنګ ښایسته ګلونو ځخه ډک دی. کله چې د ده د شاعرۍ خوږ ژبی توتي په خواږه چغار لاس پورې کړي، نو د سپین غره ښاپیرۍ او د ایلم[۹] ملوکې یې تماشې ته غوږ په آواز و درېږي.

د ده د شعر ناوې د پاولیو په شرنګهار کې د عشق د لېونیو د زنځیر شنها او مستۍ کې تور برېښو نه کوي:

یـــاد ښکلـو د پـاولـیـو شـرنګهار دی

یــا د عــشــق د لــیـونـیـو د زنــځــیر

د حمید شاعري د یو دیوان یا څو بیتونو په چوکاټ کې را ګیره نه ده بلکې د ده د فکر او خیال سمندر د خوږو استعارو او خوندورو تشبې ګانو له مرغلرو ځخه سراسر ډک دی. کله چې دده د شعر اباسین په غورځنګ راشي بیا نو په لوړه ژوره نه ایسارېږي. هغه وخت نو بیا د عشق نیرنګ د شاعرۍ په اورنګ په ځلېدو راشي:

شعر نه دی دا خو ناب د زخمي زړه دی

یا وتلی د ستي دم د خولې د مړه دی

یا نغمه د نیم بسمل مارغه د خولې ده

یـا مـجـنـون تـه مـعـمـا ښکلې لیلی ده

یـا لـه ښاره د حیرت وتلی فـوج دی

یـا دوینو ابـاسـین وهـلـی مـوج دی

---

(۹) ایلم د پښتونستان د بونیر په سیمه کې د یو جګ غره نوم دی.

حمید د خپل دېوان په ښایسته غاړه کې د درو مرجان پې مخې هارونه داسې جړ او کړي دي چې مینان یې په خوند او دلبران یې په تماشو نه مړېږي.
رباب په خپل سوزناک ټال کې داسې ویلي دي:
د حمید سوزنده شعر وسوم وسوم
دا آواز کاندي رباب له زیر او بمه
د حمید شعر ولې سوځند او تاوجن دی، دا ځکه چې دده د زړه د دفتر لومړی پاڼه د سوز په غوښتنه پرانیستل شوې ده.
الهي د محبت سوزو ګداز را
په دا اور کې د سهي سمندر ساز را
بل ځای یې داسې ویلي دي:
چې دې نوم په غوږو واورم سره لمبه شم
هومره سوز را کې پیدا کړې زما ربه
د دې راز نازک خیالۍ او ادبي استعارو له ځلا څخه وروسته ټول پښتانه شاعران حق لري چې حمید ته د موشګاف لقب ور کړي.
پیر محمد کاکړ ویلي دي:
پس له دویه موشګاف عبدالحمید دی
چې یې ووې ښه نازک نکته دان شعر
حمید په خپل دېوان کې د شعر ناوې ته د مرغلرو امیلونه جوړ کړل، مګر د شاه ګدا او نیرنګ عشق په کیسو کې یې د خیال په مرغلین مزي کې د آسمان ستوري و پېیل، د شا ه ګدا د کېسې په سریزه کې یې ویلي دي:

هلالـی کـه د هـلال پـه څـېر نګار کړه
تـه يې مياشت د څوارلسمې په سينګار کړه

او د نيرنګ عشق په سر کې يې لـه خولې نـه يـوه جوشناکه چيغـه خيژي.

ما چـې وپېيل دا در پـه بـاريـکـۍ
غـوږو ور کـړې يـو لـه بل مبارکـۍ

چې د آب سـره هـوايـې شـوه ولاړه
لــه بازاره د يـاقـوتـوګـرمـي و لاړه

نشته دا رنګ چېرتـــه درګـرامـــي
مـګر يافت شي پـه دکان د نـــظامي

نه دی کار د هر نا اهله بو الهـوس
چې قــدم ږدي ددې نـــاوې پر جـــوس

که دانا د زړه انصاف خولې ته قرين کا
پــه ويـل بـه د حـمـيد سل آفـرين کا

له دې لمر څرک نه وروسته هېڅوک دا لمر پـه دوو ګوتو پټولای نـه شي چې حميد د نازک خيالـۍ او ادبي استعارو د مکتب پيـاوړی استاذ ونه بولي، دا و د حميد د شاعرۍ، ادبي او فني اړخ.

دده د شـاعرۍ پـه بـاغ او بـڼ کـې د (شرعـة الاسـلام) د کـتـاب دينـي رنګونـه هـم ډېـر دي، سـر بيـره پـه دې دده پـه ديـوان کـې د پښتنـي خويـونـو پـت ، عـزت او نـورو درنـو اخلاقـو يـوه رنګينـه تـابلو هـم سترګې او زړونه يو شان ځان ته را کاږي.

انسان یوازې دغوښو او هډوکو کالبوت نه دی، په دغه کالبوت کې د روح او معنا یو قیمتي جوهر هم اخښل شوی دی. پخوا خلکو روغ عقل په روغ بدن کې باله اوس ور سره روغ روح هم ملګری بولي . تر څو چې روح روغ او سالم نه وي نو روغ فکر او عقل به له کومه شي؟ داکار په روحي روزنه پورې تړلی دی. رحمان بابا په دې میدان کې ډېر غښتلی او د اخلاقو او تصوف د ښوونځي لوی استاذ دی.

خوشحال د پښتو او پښتونولۍ او پښتني خویو نو دماڼۍ لوی ودانوونکی دی، مګر حمید هم په دغه ډګر کې د شعر نیلی ښه زغلولی دی، درانه خویونه ، پښتو، حیا ، غیرت، همت، کار ، محبت، میړانه، پت او عزت ستایې او بې کاري ، تمبلي، تمه، اسره، سوال او ټیټال په سخت ډول غندي.

اوس به د حمید په شاعرۍ کې د ژوندانه او پښتونولی دا اړخ هم وګورو:

وړې ترې ناست په خپل انډیري ښه یې
نه د تخت دپاسه ناست د بل کره

د منت پولاو دې زهر شه چې یې مومي
د محنت سوی سوکړک د ساګ سره

چې تنها کې د محنت لري په لاس کې
هغه نه ګوري په ځله د ګوهر مخ

په محنت سره ټوک ټوک سړی پروت ښه دی
نه ولاړ په درویزه د یوه ټوک

چې په سوال اوړدوې لاس چا ته حمیده
ښه یــې وړی لاس ترزنــې بــېنـوا
پــه حیـــــا کې سړی وږی تږی ښه دی
نه په شهد و شکر مـــوړ په بلا سور
د هغه د لاس اوبه د حیات مه څکه
چې اخیر یې لاندې کیږي تر منته
نور قېدونه واړه سهل دي حمیده
خو په غاړه دې د طمعې زنځیرمه شه
پروت پـــــه وینو کې لت پت ښه یم په پت کې
نـــه د سـرو زرو په تخـــت باندې بـــې پتــه

د حمید په دې شعرونو کې د ځان پېژندنې هغه درونـد روح ننوتی دی چــې "اقبـال" ور تــه (انــساني خــودی) وایــي. دا خــودي د ځــان پېژندنې او ځان پالنې په معنا د پت ، عزت او خواږه ژوندپه معنا او که دانه وي نو بیاد سوال، زاری‌او منت ژوند ، حمید د سروزرو د تخت له پاسه هم نه غواړي او همدغه فلسفه د قومونو او ولـسونو په ژوندانه کې هم پوره ننوتلي ده.

که چا ځان وپېژاند خپل تاریخ، قوم او خپل هېواد یې وپېژانـد ، خاوره او خپله خټه یې وپېژندله نو هغه به د ترقۍ لوړو منـاروتـه وخېژي او بریاوې به یې په برخه وي

# غزل

په دا باغ کې بـه دې پاتې نه وای ګله
کــــه خبـر وای د خــزان له تــطاولــه
دا څــو ورځــې غـنیمت وګڼه باغ کې
چــې پــه تــا بــانــدې سینه وهي بلــبله
مــرتــبه د هــغه بــاغ به پاتې نـه وي
چــې خـالــي وي د بلـبــلو لـه غـلـغلـه
وهـغـې ښیښې ته نه غړېږي سترګې
د ســاقي څـخـه چې تـــشه وي بــې مـله
مـقدر بــه په هیڅ رنګه بـدل نــه شي
چې د مشکـو بوی یې هیـڅ دی ترکا کـلـه
په پالنــګ بـه خــوب په څه کاندې بــې غمه
چــې خــبر وي د فــلــک لــه تــزلــزلــه
په درست عمر به یې نه وځي له یاده
چــې لــیدلــې وي تــارو د بــاز منــګولــه
د دلبــرو پــه مــانۍ کــې هــم مزه شته
بېچاره خــوشــحال یې مري لــه تــغـافله

(خوشحال خټک)

# د ملي ترقۍ بنسټ

که څه هم ځینې خلک دا کوښښ کوي چې د ژوند او ادب تر منځ څه ناڅه بېلوالی او لیرې والی وښیي یعنې عملي ژوند له ادبي ژوند څخه یو جلا شی وبولي، مګر ګومان کوم چې دا به د ادیبانو او پوهانو د زړه غلاوي چې ژوند، ادب او سیاست یوله بل څخه جلا او بېل ګڼي.

که نه، په حقیقت کې ژوند او ادب سره غبر ګوني وروڼه دي او په اساسي ډول هېڅکله یوله بل څخه نه شي جلا کېدی، دا جمله چې "ادب هم د ژوند تصویر دی او هم د ژوند تفسیر" زموږ د مطلب له پاره یو ډېر ښه دلیل او سند دی، نو په دې حساب ژوند د ادب معناده او ادب یې لفظي قالب دی او د لفظ او معنا یا د ظرف او مظروف په منځ کې چې څومره ارتباط دی د ادب او ژوند تر منځ هم د غومره ارتباط شته.

دا وجه ده چې د هر قوم د سیاسي او عملي بېدارۍ مانۍ د ادبي بېدارۍ په تاداوونو او چتېږي. په کوم قوم کې چې ادبي او علمي بیداري پیدا نه شي هغه قوم د سیاست او ژوندانه په ډګر کې هېڅ پرمخ تګ نه شي کولی.

د اروپا د سیاسي ویښتیا اساس او بنیاد هم ادبي نهضت او بیداري ګڼل کېږي. د ژوند، ادب او سیاست د نیږدي اړیکو له کبله په نړۍ کې هغه څوک د زیات شهرت خاوندان شوي دي چې د ادب او سیاست دواړه قوتونه یې یو ځای په کار اچولي دي. د نړۍ

ډېر سياسي مشران د ادبي قوت په برکت د ژوندانه په سختو پيچو مو کې مخ په پورته تللي دي او په دغه زور د مقصد اوچتې څو کې ته ختلي دي، د پښتنو د پخوانو مشرانو په تاريخ کې هم دغه اساس تر ډېره حده زيات تاثير لري.

چا چې د عملي ژوند په ميدان کې د قلم او ادب نيلی هم زغلولی دی، هغوی له هغه چا څخه چې يوازې عملي خوايې نيولې ده، زيات کامياب او بريالي ليدل کېږي. په تېرو پښتنو پاچاهانو کې احمد شاه بابا د تورې او قلم خاوند و، په دې وجه يې د پښتنو د تاريخ په ژوندي کولو کې لوی اثر ښندلی دی.

په هند کې د پښتنو نوابان تېر شوي دي، مګر د حافظ رحمت خان برېښ د نامه شهرت ته يو هم نه رسېږي، ولې چې ده سر بېره په عملي خوا د علم او ادب خوا هم ټينګه کړې وه. د علم او ادب هغه يو مشال چې ده په روهيل کنډ(۱۰) کې روښانه کړی و، تر کلونو کلونو پورې مړ نه شو او دده زامنو او نمسو نواب محبت خان، نواب مستجاب خان او نورو دغه رڼا تر ډېره پورې ژوندۍ وساتله.

په پخوانو پښتنو کې ميا روښان هم له تورې او عمل سره د علم او ادب خاوند و، کلونه کلونه دده تر مرګ وروسته هم دده د افکارو او نظرياتو ډيوې په پښتو نخوا کې روښانه ګرځېدې.

دده د آزادۍ او خپلواکۍ روح د عمل او مبارزې جوهر تر يوې پېړۍ پورې دده په کورنۍ، شاګردانو او ملګرو کې په ځلېدو و.

---

(۱۰) روهيل کنډ دشمال هند د يوې پراخې ځمکې نوم دی چې پښتانه په کې اوسېدل.

خوشحال خان ختټک د توري په څنګ کې دډېر ښه قلم خاوند هم و چې دشهرت او نامه انګازو يې دنيا وخوځوله او لاتراوسه پورې دده پو کړی روح په پښتنو کې نه دی مړ شوی. لکه څنګه چې پښتانه دده په توره او عملي مجاهدت نازېږي نو دغسې دده دژبې او قلم په مرغلرو هم له اندازې نه زيات وياړي اوسر لوړي پرې کوي.

د مغلو په خلاف د عملي جنګونو په ميدان کې ايمل خان مومند تر ده قوي او مخکې و مګر د تاريخ لمن نن د خوشحال د شهرت په مرغلرو ډېره ښايسته ده، ددې ټولو خبرو وجه او علت دادی چې ده او دده په شان نورو مشرانو دعملي ژوندانه د تفسير او تصوير لپاره د ادب قوه هم په کار اچولې وه.

د پښتنو د تېر تاريخ په هنداره کې داسې نور مثالونه هم ليدلی شو. موجوده وخت هم يقيناً داسې مشرانو او پوهانو ته اړه او ضرورت لري، موږ له عملي مجاهدې او کار څخه پرته پر مخ نشو تلای او بې له علم او ادب څخه هم پر مخ تګ نشو کولی. قول او عمل يا ژوند او ادب له يو بل سره لازم او ملزوم دي. که څوک غواړي چې د ژوندانه په ټولو چارو کې پرمختګ و کړي نو په کار ده چې د ملي او قومي ادب د ترقۍ خواته هم زياته توجه وکړي. د قومونو په ژوندانه کې چې خپله ژبه او غني ادب څومره اثر لري هغه چاته څرګند دی،چې د ډېرو ژوندو ملتونو موجوده کوښښونه د ژبې او ادب د ترقۍ پر محور څرخي. په پښتنو کې چې د دوی د زياتو مشرانو د غفلت په وجه يقيناً دا برخه کمزوري پاتې شوې ده

او دا وجه ده چې د عملي ژوند په ډګر کې هم پښتون قوم له نورو قومونو څخه وروسته پاتې شوی دی.

په دې ځای کې یو پښتون شاعر د زړه له در ده ویلي دي:

په پښتو خبرې مورږ ته شرم ښکاري
تر دې حده قومیت زمونږه مړ دی
خپل مذهب او ژبه پرې نږدې افغانه
چې همدغه د قومي ترقی جړ دی

له دې کبله وایو چې د ژبې او ادب ژوند د قومي ترقی بنیاد او بنسټ دی. که څوک دې اساس ته په سپکه سترګه ګوري نو هغه به یقیناً له تاریخ او فلسفې څخه نا خبره وي او د نړۍ حوادث او پېښې به یوازې ناڅاپه پېښېدونکې شیان ګڼي.

دغسې کسان د فکر د خاندانو په ډله کې نه شي حسابېدای. ښایي چې د پوهې خاوندان د خپل قومي او ملي ادب د ژوندانه په لاره کې پوره زیار وباسي او د خپل قوم د ژوندانه ماڼۍ د ادب د ژوندانه په پاخه اساس باندې ودانه کړي.

ملي او قومي ادب د ژوندانه سا او روح دی. که چېرې پښتانه خپل ملي ادب ته پام ونه کړي او د نورو ژبو د ادب په مینه و روزل شي، نو هغه وخت به دوی ژوندي وي مګر ژوند به یې د نورو لپاره وي یعنې د بل په شا به د بل لپاره ژوندي وي.

١٦ جوزا ١٣٨١
د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون

# د هېواد په عمومي اداره کې ګډون

په عمومي اداره کې د ګډون حق، هغه حق دي چې د اسلام دين هر چاته ورکړی دي. د اسلام د پيغمبر(ص) په وخت کې دغه حق ۀ شوراګانو ته د خلکو له خوا د استازو په لېږلو سره ساتل شوي ۀ.

کله چې پيغمبر(ص) له دې نړۍ څخه رحلت وکړ، ياران يې د ځاي ناستې د ټاکلو په خاطر په ثقيفه بني ساعده کې سره را ټول شول. په پيل کې له يوه څخه ډېر کانديدان د ځاي ناستې توب لپاره موجود وو، خو په پای کې ټولو د حضرت ابوبکر صديق (رض) په ګټه رايه ورکړه، لومړي د اصحابو او د خلکو د استازو له خوا انتخاب شو او وروسته ټولو خلکو بيعت وکړ.

حضرت ابوبکر صديق (رض) خلافت يو مسووليت وګڼلو او په خپله خطبه کې يې وفرمايل:

" ای خلکو زه يوازې يو والي مقرر شوم، ولايت کوم لوړوالي نه دي، مسؤوليت دي، تر څو چې په حقه يم زما اطاعت وکړئ ، که کوم وخت د باطل خوا ته ولاړم بيا مې اصلاح کړئ، زما په نزد ستاسو کمزوري ما ته قوي دي، تر څو دده حق ورکړم او ستاسو قوي زما په نزد کمزوري دي، تر څو چې د خداي(ج) په اراده د نورو حق ور څخه واخلم.

*هرڅوک حق لري چې د هېواد په ټولیزه اداره کې برخه واخلي.*

..............................................

دافغانستان اتباع د انتخابولو او انتخابیدلو حق لري.

(دافغانستان داساسي قانون له دري دیرشمې مادې څخه)

هرڅوک حق لري چې دخپل هیواد دټولیزو چارو په اداره کې، په مستقیم ډول او یا هم دخپلو استازو له لارې چې په آزادانه ډول ټاکل شوي وي، ګډون وکړي.

(دبشري حقونو دنړیوالې اعلامیې یوویشتمه ماده، لومړی بند)

# په پښتو ادب کې باګرام

دا کلمه د پښتو په پخوانو دېوانونو کې زياته ليدل کېږي او په پښتو ادب کې يې يو ښه ادبي قيمت پيدا کړی دی. ښايي ددې کلمې په لوستلو سره تاسې هغه لوی تاريخي باګرام ته ځيرشئ چې پخوا د کاپيسا مرکز او نږدې دوه نيم زره کاله پخوا، شپږ سوه کاله د افغانستان د امپراطورۍ پايتخت و. مګر دا باګرام چې دلته يې يادونه کوو، هغه بګرام نه دی بلکې بل بګرام دی چې د خيبر او پېښور په منځ کې پروت و.

بګرام د سانسکرت کلمه ده، په دې کلمه کې زښته ډېرې اړونې او تاويلونه شوي دي. څوک وايي چې بګرام د بګ او رام څخه مرکب دی، رام په سانسګرت کې خدای ته او بګ باغ ته وايي. نو د بګرام مانا دا شوه چې د خدای باغ، ځينې داسې تاويل کوي چې بګرام په اصل کې بالک ګرام دی، بالک[۱۱] په سانسګرت کې د هلک په معنا دی او ګرام[۱۲] کلي ته وايي نو د بالک ګرام مانا دا شوه چې د هلکانو کلی. دا کلمه په قديم کې د راهبانو د کلي لپاره استعمالېده ولې چې دغلته به هلکان د خدمتګارانو په توګه موجود وو، نو په دغه وجه دوی ته نسبت شوې ده، وروسته بيا دغه کلمه کوچنۍ شوه او باګرام ځنې جوړ شو. پرته له دې

---

(۱۱) دا کلمه اوس هم په پښتو کې ژوندۍ ده او استعمالېږي داسې يو هلک چې د سړي خدمتګار غوندې وي او د کار لپاره د سړي سره ګرځي هغه ته بلکی وايي.

(۱۲) ګرام د کلي په معنا اوس هم ژوندی او موجود دی او د زياتو نومونو په آخر کې راځي په وزيرستان کې کانيې ګرام تر اوسه ياديږي، په کونړ کې کلی ګرام، په پيښور کې بټه ګرام، د کليو نومونه دي، په نورستان کې هم د ډېرو کليو د نومونو په آخر کې دغه کلمه شته، نو معلومېږي چې ګرام د کلي او يا د ښار په معنا دی.

ځخه نور تاویلونه هم په کې شوي دي او په دې وروسته ماناوو ښودل شوی دی:

پایتخت، د نجیبانو ښار، د خدای باغ، د مریدانو او راهبانو کلی. د بګرام کلمه د بودایي دین د مقدسو ځایونو لپاره استعمال شوې ده نو په دغه اعتبار د بګرام په نامه ډېر ځایونه مشهور وو.

لوی بګرام البته چې داد کهدامن بګرام دی چې تراوسه پورې یې دغه نوم پاتې دی. دا بګرام د کنشکا داوړي پایتخت و، بل بګرام د ګندهارا بګرام و، ښایي چې د کابل او بتخاک تر منځ بګرامي او د جلال آباد د لویدیځې خوا بګرامي ورسره ارتباط ولري.

دریم بګرام د خیبر او پېښور په منځ کې و، وایي چې دغه بګرام د کنشکا د ژمي پایتخت و. قاضي میر احمد شاه په لشکرستان کې لیکلي دي چې بګرام د پېښور پخوانی نوم دی. په هر صورت باګرام یو لرغونی نوم دی چې د پېښور شاوخوا سیمو ته ویل کېده.

په پښتو ادب کې د همدې باګرام یادښت شوی دی. اوس یې موږ دلته ادبي استعمال راوړل غواړو. پښتانه شاعران، د باګرام د معشوقو ډېر صفت او ډېره ستاینه کوي او باګرام د ښه حسن او ښو معشوقو مرکز بولي، رحمان بابا د خپل شعر مقام په دې لوړ وي چې د باګرام ښکلي پرې نغمه خواني او نڅا کوي. لکه چې وایي:

هم نغمې کاندي هم رقص کا هم خاندي

د رحمان په شعر تر کې د باګرام

حمید خو بلکل ددې نوم مفتون دی، خپل محیط ته د باګرام لاله زار وایي او ځان ددغه لاله زار بلبل ګڼي:

د بـا ګـرام دلالـه زار بـلبـلان واړه

د حمید خوش ګـویایي کړله خاموش

چې حمید غوندې بلبل یې سر په ګور کړ

هغه ورځ به د بګرام په ګلـو هی وي

کاظم شیدا بګرام ته د زړه خطاب کوي او وایي:

ځو دا کاخ، دل افروز وي　　　　په کې دا جشن نوروز وي

تـر هـغه پورې بـګرامه　　　　په جهان مه شې بې نامه

لـه دې څخـه البتـه د بګـرام شـان او عظمـت او لـوی نـوم هـم ښـه څرګند ېږي. علي خان د باګرام ښکلي او ترکې د تخت لایقې بولي لکه چې وایي:

د ختن ترکې دې زر راځي سلام له

نن د تخت لایقه ترکه بـګرامۍ ده

عظیم هم د باګرام د ښکلیو خیال او سنګار یادوي او وایي چې زما زړه به هله آرام شي چې د باګرام ښکلي له خیال او سینګار نـه لاس واخلي.

د عظیم زړه به آرام شي له فریاده

د باګرام ترکې که خیال او سنګار نه کا

په بل ځای کې د تمثیل په صورت د باګرام شان، هنګامه او ګرم بازار داسې یادوي:

د باګرام بازار به هومره ګرم نه وي

لکه ګرم دی بازار درانې زو

عظیم په ۱۲۵۳ هـ کې مړ شوی دی، نو معلومېږي چې تر دغه وخته هم دا نوم موجود او ژوندی و.

غرض دا چې د باګرام معشوقې او په خپله د باګرام کلمه په پښتو ادب کې یو منلی مقام لري او د پښتو شاعرانو د باګرام د ښکلیو په یاد ډېرې نغمې ویلې دي.

بګرام لکه شهباز د پښتنو شاعرانو د زړه رباب ډېر ترنګولی او ښه آوازونه یې ترې ویستلي دي چې دغه خوږ ترنګهار او خوږې نغمې تر اوسه دشعر په غوږ کې پرتې دي او د شعر او ادب دنیا ور څخه خوند او لذت اخلي.

---

**سپارښتنه:**

ښوونکی دې د سانسګریت ژبې په هکله خبرې وکړي.

یو زده کوونکی دې ووایي چې حمید د شاعرانو په منځ کې په کوم نوم شهرت لري او ولې؟

# زوی ته د سکندر خان ختک نصیحت

اې زما د کور رڼا د سترګو نوره
خدای دې نه کاندي په تا باندې مور بوره
هغه وخت چې ته په عمر هفت ساله وې
لکه ګل لا د چمن په حواله وې
اوس دې عمر په حساب کې پنځلسم شو
قد قامت دې هم له سروسره سم شو
اوس له وړکیو سره مه کوه بازي
په ښه خوی غواړه د ځان سر فرازي
اوس هغه کارونه کړه چې هنر ور شي
په ښه خوی هنر و خلق ته نامور شې
په هر ځای کې چې د علم مشغولا شي
ستا به څه حاصل په اسم د بابا شي
فضیلت علم و هنر که ستا د پلار وي
د بابا علم د زویه څه پکار وي
دا متل دی ډیر مشهور په جهان واړه
چې حلق لوند دی د هر چا په خپله لاړه
را سره د خپل بابا لرم یادګاره
ښه لایق ځوانان بې موره دي، بې پلاره
سړی کوم دی چې پسندلی په هنر وي
بې هنره، سړی نه دی لکه خر وي

مال دولت که ور کوي رنځ دي زياتيږي
هنر عــــلم ورکوه ګنج دي زياتيږي
په دنيا باندي تفصيل د هــنر دادی
دنيا نور در ځخه يوسي هنر ستــا دی
موافق له خپل آمد سره بــښل کـړه
نو لس وباسه له کوره وصـــول شل کړه
هغه کس به زر د ښهر درويزه ګـر شــي
چي يي شل له کوره وځي نو لس ورشــي
که دولت غواړي طالب د ســبب اوســه
د خـــــدای خلق سره تل په ادب اوسه
دين آيين د محمد واړه ادب دی
تل نازل په بــي ادب درب غضـــب دی
ځو حيات يي په دنيا کي ويوهيږه
په هر ځای کي خدای حاضر ګڼه ويريږه
او هغه سړي نه تښتــه ځو در کيږي
هغه ځوک دی چي له خدايه نه و يريږي
دا حديث د پيغمــبر د خولي عيان دی
په کار علم د اديان هم د ابــدان دی
د هر چا چي په دنيا دواړه نصيب شي
په جهان کي هـــم فقيه شي هم طبيب شي
لږ خوراک خوره نفع ډيره لري لــويه
په ډير ډير خوراک کي ډير زحمت دی زويه

چــا طــبـيب و تــه دا وويل طبـيبه
دا خـبره نـــه ده تا وته عـجـيـــبه
هــسې رنــګه ګولـــۍ وخـوروه ماته
چې محتاج د دارو نه شم ويل چا ته
د طبيب ورته هم دا رنــګه جواب و
مختصر جواب يې ور کړ جوړ کتاب و
څو چې وړی شي خوړو ته لاس دراز کړه
لا چې وړی يې لاس بيا ورځنې باز کړه
زويه مه ژاړه هر ګز له تــنګـدســتۍ
پاشاهي نه ده په کار بې تــندرستۍ
اې زما زويه دا وکړه که به ښه کړې
ناست ولاړه لـــه بدانو سره نـه کړې
چې له بدو بد کـارانو ســره اوســې
که هر ګز په ځان بد نه کړې بد به يوسې
که سخن دې مالا مـــا ل لـطف و آداب وي
خو بيا هم په کم ګويې کې ډېر ثواب وي
مرغلرې لــړې وپيـيه هار کيـــږي
چې لړ زور په مزي وشي مــزی شلېـږي
دنيا وښنده عمل پرې ښايســـــته کړه
په ښه ورکړه رنګ محل پرې ښايسته کړه
اې زما زويه د نيکو، خـــوی پــيدا کړه
له دنيا نــه مـينه ډيـره په عقبا کړه

(سکندر خانه ختټک)

# ظلم

ځو به خورې پردي مـــالونه پــه ستــم
یــوه ورځ به دې په نس کې شـــي اړم

د مظلوم د مال روټۍ خپله بوټۍ خورې
مــه شه هیڅ په دا خوراک خوښ و خـرم

دســـــتم پـــه درم مـــه هـــوســــېږه
مه کړه خدای مـــار ولړم داستا همدم

ژر پـه ژر به دې دیوال د عمر پرېوځـــــي
چې یې زدویې د مـظلوم د اوښو زیـم

چـې یــوه کــوډۍ د ظلم په کې ودرې
په شـومیت یې شهر وران شـي چم په چم

د ظالم دودانۍ مـخ پـه ورانــۍ دی
دا خبر دی په جــهـان کـــــې مـــسلـم

زمانې دې ډېر زمــري هســې خوار کړي
چـې وهــلای اوس پیشو تـــه نشي دم

بڼـه کېږې د فــلک دباد په مخ کې
لکــه غر هسې عالــم په زور مــحــکم

چېرې نشي دهـاتي تــر قـدم لانـدې
پـه عاجـز مـچ اومـېږي مـه بږده قـدم

هغه مـه پـسنده پـه بل باندې انصاف کړه
چې يې نـه پسندي پـه ځان بانـدې ماتم

چې په خپل صورت اغزی منلای نـــشـي
بــل تــه ولــې رسـوي د تيــغ الـــم

آدمزاد دي د يــوې ونې ښـاخـونـه
چيـرته يو ښاخ زعـفران شوی نور شـړ شم

سبا ورځ به يې لغته په شاو خورې
مـه شه نـن په يوه سوک وچـا ته ګرم

چې سبـا دې ژړ وي په اوښکو وينو
نـن بـايده ده غـمخوري د هـغـه غـم

د غفلت زخم به ژر دا ستـا ناسور شي
چې پرې نــږدې د نيکخوا ه د پنـد مر هم

که امسايې د مـوسـی بـولي وګړي
ښايي نـن ساعت "حـميده" سـتا قـلم

(د حميد مومند له ديوانه)

# ویل او کول

په دې پورته دوو کلمو کې د ژوندانه ټول راز پروت دی.

څه چې په دنیا کې شوي دي یا اوس کېږي او یا وروسته کېدونکي دي، هغه درست ددغو دوو کلمو په لمن کې راتلی او ځایېدی شي.

د ټولو کارونو او چارو ړومبی پوړ ویل او دوهمه پوړۍ یې کول یا په بل عبارت که ووایو نو ویل لومړی ګام او کول یې دوهم ګام دی. اول ګام د دوهم پیدا کوونکی او دوهم د اول پوره کوونکی دی. که اول ګام سړی وانخلي نو دوهم نه پیدا کېږي او که دوهم وانخلي نو اول نه پوره کېږي.

د دنیا درست کارونه هم دغه مثال لري. باید چې ړومبی دیو کار نیت او اراده وکړی شي او پس له هغه ورته د عمل جامه واغوستلی شي.

د ویلو نه زموږ مطلب د یو کار نظري، فکري نقشه او پروګرام دی او له کولو څخه مقصد د هغه فکر او نقشې عملي کول او میدان ته راوستل دي.

د یوه مملکت او هېواد د لوړتیا او ودانی لپاره دغه دواړه شیان لازم او ضرور دي. بې ویلو یعنې بې نقشې او فکر څخه کار کول په لوټه لور تېره کول او بې کولو تش ویل هسې باد ، پیما نه کول دي. څوک چې د ژوندانه په راز پوه شوي دي، هغوی په رښتیا سره ددغو دوو کلمو په معنا پوهېږي، څه چې کوي په هغه کې لومړی فکر کوي، نقشه او پروګرام ورته جوړوي او څه چې وایي هغه خامخا د عمل ډګر ته باسي او سر ته یې رسوي.

مګر د چا چې لا د ژوندانه په کامیابیو کې نصیب نشته نو هغوی دویلو او کولو په اصلي معنا او ارتباط نه پوهېږي، نه یې کول د کومې نقشې او پروګرام له مخې وي او نه یې ویل د عمل جامه اغوستی شي. څومره چې د فطرت د قانون غوښتنه ده نو په ژوندانه کې دداسې خلکو کامیابي او لوړتیا سخته ده. له دې کبله هر چا له پکار دي چې دویلو او کولو په اصلي معنا کې فکر وکړي او دغه دواړه لکه د ځنځیر کړۍ ټینګې و نښلوي.

ویل او کول دواړه دغسې فعلونه دي چې هر څوک ورته په ژوندانه کې اړ او محتاج دي، ووړ او غټ، کشر او مشر، ښځه او نر دا ټول په کې برابر دي، البته دومره خبره شته چې مشرانو ته ددې خبرې

زیات ضرورت دی، چې وینا یې تل د عمل او کولو سره ملګري وي

مشر د کشر پول دی دا پول په عمل جوړېږي او د عمل په واسطه کېدای شي چې کشرانو ته لار سمه شي.

دا د تقلید یوه غریزه ده چې عموماً په کمزورو کې لیدل کېږي او تقلید تل په افعالو او کارو کې پیښېږي. بنا پر دې څوک چې څه وایي، هغه په خپله هم په ښه شان عملي کړي او ځان د نورو لپاره مشال وګرځوي، په تېره هغه څوک چې مشر یا ښوونکی وي.

که چېرې دداسې کسانو ویل او کول سره یو شان نه وي نو باید چې هیڅکله د کامیابۍ او لوړ تیا هیله په زړه کې ونه ساتي، له خپلې وینا سره سم چلېدل هم د دنیا او هم د آخرت د کامیابۍ دلیل دی.

حمید بابا ویلي دي:

ځانته ښه وایې ښه نه کړې — هغه څه وایي داڅه کړې

له وربشو، غنم غواړې — ښه به هله شي که ښه کړې

# غزل

څو چې مې لرې په زړه کې مېنا خاندي
مېخوران ځکه په ښبل د صهبا خاندي

فلک دوه په يوه خوی موافق نه کړه
صراحي د سرېندې په ژړا خاندي

د هر چا سره چې يې موافق اوسه
غونچه ګوره د صبا په خندا خاندي

ګوره څه لري په زړه کې څه به وايي
چې ديدن لره يې ورغلم بيا خاندي

پرې به تل کوم د اوښو بارانونه
غونچه خوله که د دلبرو په دا خاندي

مستان هيڅ د غم له اوره نه ويرېږي
د سېلاب په لار کې ناست دي قهقها خاندي

شهيدان د عشق په پټه خوله روان شول
هر پرهر به يې په حشر سبا خاندي

په اجل به دده نورعالم خوشوقت شي
که سکندرپه قتلول د دارا خاندي

❁❁❁

(سکندر خان ختک)

# مخدره مواد

مورفین: مورفین له اپینو څخه لاس ته راځي او له خطر لرونکو موادو څخه دي. له دې مادې څخه په طبابت کې کار اخیستل کېږي. د مورفینو له استعمال وروسته استعمالوونکي ته د خولې وچوالی، تنده، خوابدي، کانګې، لږ خوراکي، د پوستکي وچوالی، قبضیت، د پوستکي خارښت او عمومي سستي پیدا کېږي.

هر درمل چې پرته د ډاکټر له تجویز څخه استعمال شي، غیر قانوني دي. کېدی شي چې ستاسې د مړینې سبب شي.

هیرویین (پودر) : هیرویین یو له ډېروقوي او خطرناکو موادو څخه دي چې د مورفینو له تقطیر څخه لاسته راځي. لومړی یې دغه مواد په طبابت کې د مورفینو په ځای استعمالول، کله چې پوه شول چې دا له مورفینو څخه هم خطرناک دي نو د هغې په جوړولو او استعمالولو یې بندیزونه ولګول. روږدي کسان یې په مختلفو ډولونو لکه دڅکولو، تر پوستکي لاندې اورګ کې د پیچکاري کولو له لارې استعمالوي.

هېرویین، مورفین او اپین د مزي قوه له منځه وړي او اتیا په سلو کې خلک چې په دغو موادو روږدي دي له دې قوې څخه بې برخې دي. د هروینو یا پوډرو اغېزې پر وجود دادي چې، خوب ډېروي، له خوراکه لویږي، په هیروینو روږدي کسان ورو ورو په خپل ځان اعتماد له لاسه ورکوي او په یو بېکاره، مضر او په بې

شخصیته سرې بدلېږي. همېشه یوازې د خپلې نېشې په هکله فکر کوي او د هغې د لاس ته راوړلو لپاره هر ډول جنایت لکه غلا، لوټولو او حتا وژنو ته هم لاس اچوي.

د پوډري جسمي قوه له منځه ځي او د وجود ټېنګتیا یې کمېږي او په ډول ډول مکروبي ناروغیو اخته کېږي. په دوی کې د پوستکي تکلیفونه او نورې ساري ناروغی لکه ایډز ډېر وي.پوډریان ډېر ناولي او خیرن وي، د کورنۍ او ټولنې د تکلیف سبب ګرځي.

په هیروینو اخته کسان د کورنۍ او ټولنې د اوږو بار وي. د کورنۍ او ټولنې بد ترې راځي او کرکه ترې کوي.

په مخدره موادو داخته کیدو مخنیوی:

په مخدره موادو د اخته کیدو په مخنیوي کې کورنۍ، انډیوالان، ښوونځي، ټولنه او دولت ټول رول لري. مخکې له دې چې د هغوی درول په هکله خبرې وکړو راځئ چې پردې ځان پوه کړو چې دوی ولې نېشه کوي؟ د ماشومانو په روزلو کې د مور او پلار نه پاملرنه، دلتېۍ احساس، له ملګرو او انډیوالانو سره په پره کې راتلل او په هغې کې بند پاتې کېدل دي. همدا رنګه د سالمو بو ختیاوو او د سپورت د زمینې نه برابر ولو موجودیت، د مخدره مواد و له زیانونو څخه بې خبرې، روحي فشارونه، یو نواخته ژوند، په ځان اعتماد نه درلودل او بېکاري، د رنګینو اعلانونو او فلمونو تر اغېزې لاندې راتلل لکه سګرت او نور ، دغه پاس ټول عوامل د نشې په اخته کېدوکې ډېر رول لري.

د کورنۍ رول: د یو ماشوم د زده کړې بنسټیز او لومړنی ځای کورنۍ ده. هغه څه چې یو ماشوم له کورنۍ څخه زده کوي د عمر ترپایه پورې د هغه په ذهن کې پاتې کېږي.

نو له همدې کبله له خپلو ماشومانو سره دوستانه چلند و کړئ. هغوی ته وخت ورکړئ چې خبرې وکړي، د هغوی پوښتنو ته سم او په زړه پورې ځواب ووایئ، هڅه وکړئ چې د خپلو ماشومانو په مخ کې نېشه کوونکي مواد ونه کاروئ.

کله کله پلار او مور فکر کوي چې ماشومان یې د نېشه یي موادو په زیانونو پوهېږي، نو له همدې کبله د هغو د زیانونو، د دلیلونو په هکله ور ته څه نه وایي. کېدای شي چې هغوی د بل چا د خبرو تر اغیزې لاندې راشي او په دې هکله غلط څه زده کړي.د خپلو ماشومانو سره مینه کوئ، پوښتنو ته یې سم ځواب ورکوئ او هغوی د نېشه یي موادو له زیانونو څخه خبر کړئ.

دا ښه کار نه دی چې څوک د نېشې نوم واخلي او تاسې یې له خبرو منعه کړئ. کېدلی شي چې ستاسې ماشوم له تلویزیون، اخبار یا ښوونځي څخه په دې برخه کې څه زده کړي وي، د هغوی پوښتنې بې ځوابه مه پرېږدئ.

پلرونه او میندې کله چې ماشوم ته پیسې ورکوي، باید په دې پوه شي چې په هغې یې څه وکړل. که په ماشومانو کې یې غیر طبیعي او مشکوک حرکات ووینې، د هغې علت ولټوئ.

انډيوالان: د ورکتوب، ځوانۍ او د پاخه سن انډيوالان کولی شي چې يو څوک ښې لارې ته، لکه ښوونځي او بر عکس بدې او کږې لارې ته، لکه سګرټ، شراب، چرس، او نورو ته وهڅوي او د پوډريانو او شرابيانو په قطار کې يې ودروي.

دا د مور او پلار او ښوونکو دنده ده، چې هغو ته يې پام وي او د هغوی انډيوالان وپېژني چې څرنګه خلک دي.

ښوونځی: په ښوونځي کې يو ماشوم د ډول ډول کورنيو له ماشومانو سره يو ځای کېږي.

هغوی په ګډه سره لوبې کوي، سبق وايي، او يو له بله نوي شيان زده کوي او يو د بل له کړو وړو څخه اغېزمن کېږي. که د هغوی په ډله کې يو نېشه يي وي کولی شي چې څو کسان نور هم هغې ته وهڅوي. نو له همدې کبله بايد د زده کوونکو اخلاق او کړه وړه ثبت شي او مشکوک زده کوونکي تر څارنې لاندې ونيول شي.

زده کوونکو ته د نيشه يي‌مواد و په هکله معلومات ورکړل شي، تکړه او نه نېشه يي ښوونکي بايد په کارو ګومارل شي، هغه ښوونکی چې سګرټ څکوي او يا نسوار اچوي دزده کوونکو په مخکې دې له دې عمل څخه ډډه وکړي.

(ډاکتر محمد فريد بزګر)

# د تېرو شاعرانو يادونه

په پښتو ژبه کې ډېر وو شـــاعران
خو په واړو کې پادشا و خوشحال خــان
هېڅ ايسار نه دی په لوړه په ژوره
نه پوهېږم ابا سين دی که طـوفان
منظومات يې دي لړۍ د مرغـلرو
تشبي شوي په ياقـوتو او مـــرجـان
د خوشحال د زړه کترې څه هسې نه دي
چې سيالي يې کاندي لعــل د بدخشان
معلومات يې د کلام په خپل لسان کې
دی حسان بن ثابـت دی د سـحبان
په آثارو د قدرت کې چې را چل شي
ته به وايې چې هومر دی ديــونان
په شکوه داورنګ زېب او د بهرام کې
فردوسي هم ورته پاتې شي حيران
په پښتوکې خوشحالخان داسې شاعردی
لکه و امراء الـقيس په عربستـان

مقالات یـــې واقعي او حسب حال دي
نه فرضي ویـل چې کـاندي شـاعران
تر شیرین خوږو الفاظو یـې رازېږي
د پرخسرو غوندې توتیان دهندوستان
پس له ده که څوک شاعر و ســـخندانه
نکته سنج نازک خیال شیـریـن بیان
اول زوی د خوشحال عبدالـقادر و
بل هجري و چې یـې نـوم و اشرف خان
د هجري طبیعت هله زور ښکاره کړ
لـه وطـنه چـې د کـن تـه شو روان
د عبدالـقادر اشعارکه چېـرته واورې
د اتـیا کـالو بوډا به پرې شي ځوان
خیالات دده چې هسې بلند نـه دي
چې به کښېوزي په کمندکې دآسمان
پس له ده چې کاظم خان شیدا ګویا شو
چې و زویه دانشمند د افـضل خـان
په هوا یې هېڅ مارغه دخیال پرې نه ښود
ده چې باز د طبیعت خپل کړ پران

لطافت او نـزاکـت چــې د کـلام و
واړه خدای کړ په نصــیب د کاظم خان

تشبیهات یې څه دا هسې شانته نه دي
چې زړګی به ورته ټینګ کاندي انسان

هر یو شعر یې د دیوان انـتخابي دی
هــر غـزل یې دی تصـویر د پرستان

بیا په دور د شا عـالم په څړبنو کې
را ښکاره شو په جـهان عبـد الرحمان

موسیقار غوندې یې هسې نغمې وکړې
چې یې پورې کړلو اور په کل جــهان

تا به وې چې د شیراز خواجه حافظ دی
چې پیدا شـو په ولـس کـې د افــغـان

بیا په دور د محمد شا ه مـغل له ورایه
ماشو خیلو کې راوخـــوت حمید خان

چې یې وېــپیل په زور د طبیعت خپل
د الفاظو پـه ځـای سـتوري د آسمـان

(د قاضـــي میر احمد شاه رضواني دبوللې یوه برخه)

## ددغه کتاب دلغاتو معناګاني

(الف)

| | |
|---|---|
| اتام | طعام، ډوډۍ |
| اړم | بند، ښبتی (جبل) |
| اسره | تمه، هیله |
| آغلی | ښایسته او ښکلی |
| الوول | تاوړ اتاو |
| اماني | ټول درست |
| انځور ګر | نقش کوونکی |
| انډیری | پوزی، بوریا |
| ایل | تابع |
| ایلچی | استازی |

(ب)

| | |
|---|---|
| بتۍ | داور داش او نغری |
| بډه | د پرتو ګاڼې اچولود ځای نښه. |
| بلوسېدل | مزاحم کېدل، غرض کول |
| بلېږده | لړدېدل |
| بوټۍ | سره غوښه، د غوښې ټوټه |
| بوډۍ ټال | سره زرغونه |
| بوره | زوی مړې |
| بومیا | لارښود، رهنما |

(پ)

| | |
|---|---|
| پامم | پالم او روزم. |
| پاسلونه | منت، احسان اېښودل |
| پاټۍ | دوره، نېټه |
| پدل | اغېزه او تاثیر |

| | |
|---|---|
| پرخه | شبنم |
| پلی | پیاده |
| پوړی | د زینې پټ، د پښې اېښودلو ځای. |
| پېچومی | سر بالایي |
| پیروی | د شو دو مخ، قیماق |
| (ت) | |
| تاترین | د ځمکې تل، کښته ځمکه. |
| تتېرې | خړ او خیره کېږي |
| تر ټنه | شړل او رټل |
| تروړی | ګېدړه، روباه |
| تور برېښ | د تورې ځلول، ګواښ او دپکه |
| تو کم | نژاد او نسل |
| تنزری | دزرکې په شان یوه ښایسته مرغی ده. |
| تلولی | په غوړو او تېلو کې وریت کړی. |
| تناکی | د لاس پولۍ، ابله |
| تیکی | د تورې غلاف، چړ تون |
| (ټ) | |
| ټاپی | وخت او موسم (موقع). |
| ټاټوبی | مسکن، د اوسېدو ځای |
| ټټو | د باروړلو اس، یابو |
| ټیټال | پستي، بې همتي، غوړه مالي |
| (ج) | |
| جاج | فکر او سوچ |
| جوس | انګړ او حویلۍ |
| (چ) | |
| چابړۍ | د تلې پله |

| | |
|---|---|
| جړ او | مرصع، ښکلی |
| چړوکۍ | کوچنۍ چاړه |
| (څ) | |
| څپاند | څپې وهونکی |
| څرنده | څرېدونکی |
| (ځ) | |
| ځوړ | کښته، لاندې (نشیب) |
| (خ) | |
| خړوب | سیراب- او به شوی |
| خندنی | د خندا وړ. |
| خوځنده | متحرک، ژوی او ساکښ |
| (د) | |
| د مړی | نیمه پیسه |
| (ډ) | |
| ډمبرګلی | جعفري ګل |
| (ر) | |
| راښکون | کشش |
| (ز) | |
| زر زرې | طلایي |
| زړن | زړ ور |
| زوم | بي خونده، بې کاره. |
| زوی ولی | یو چاته زوی ویل یا په زوی نیول. |
| زیړوتی | زیړرنګی، زردګون، زیړبخن |
| زیم | نم |
| (ژ) | |

| | |
|---|---|
| ژړغونی | ژړا نیولی، ژړېدونکی، ژړا ته نژدې |
| ژړنی | ځوان، ځلمی. |
| (س) | |
| ساګ | سابه، سبزي |
| ساوو (ساهو) | شریف، دروند |
| ست | سلا او بلنه |
| سکروټی | سر شوی، سکاره، قوغ |
| سمندر | د او رچینجی |
| سندر بولی | سندرې ویونکی، سندر غاړی |
| سوبه | بری، فتح |
| سویل | جنوب |
| سهی | زغمناک |
| (ش) | |
| شخړه | جګړه، لانجه |
| شڼا | مستي او جوش |
| شڼ | مست او بې پروا |
| شومیت | بد مرغي، بد قسمتي |
| (غ) | |
| غړمبا | د زمري آواز او زوږ |
| غړند | مړاوی، زمول |
| غندنه | دچا بد ویل |
| غوځه | پرېکړه |
| (ک) | |
| کبلۍ | د سویې بچی |
| کسات | بدله، انتقام |
| کوږ | لېري، بېر ته |
| (ګ) | |
| ګاڼه | پسول ، زیور |

د نشه يي توکو پرضد مبارزي وزارت

دکوکنارو کښت اود مخدره موادو قاچاق، تروريزم، اداري جرمونه اوفساد غښتلي کوي اوزمونږ دګران هيواد دټولنيزې اواقتصادي بيا رغونې خنډ ګرځي.

دمخدره توکو معامله ګران دژورې په شان د بزګرانو او بې وزلو خلکو له وينو څخه ګټه اخلي .

له نښو سره مرګونې ناروغۍ ملګرې دي لکه : ايډز، زيړی او داسې نور.